دعیسوي دوران په شروع کې دنړۍ نفوس په هره پیړۍ کې ۷ فیصده ډېرېده، همدا نرخ تقریباً تر ۱۷۵۰م کال پورې دوام وکړ.

د ۱۸۵۰_۱۷۵۰م کلونو ترمنځ دنفوسو وده په هره لسیزه کې ۴،٦فیصده وه، او د ۱۹۰۰_۱۸۵۰م کلونو په منځ کې ۷،٦فیصده شوې وه او د ۵۰- ۱۹۰۰ م کلونو تر منځ په هره لسیزه کې ۸،۹ فیصده شوه.

۲۵۰ کاله دمخه ملکه ان-نی ANNE اولس کوچنیان دنیا ته راوړل، ولې دمخه تر دې چې دوی د لس کلنۍ کلونو عمر ته ورسېږي ټول مړه شول او دې ملکې ترخپل مرګ وروسته د انګرېز تاج او تخت ته وارث پرې نښوده*.

دهمدې پېړۍ په شروع کې حتی په متحده ایالاتو کې دهرو زرو کوچنیانو له عملې څخه ۱٦۲تنه دمخه تر دې چې ۵ کلونو عمر ته ورسېږي مړه کېدل، په داسې حال کې چې نن دا رقم په پرمخ تللو هېوادونو کې د ۱۰ او۱۵ تر منځ دی.

د موضوع طرح:

په دې لیکنه کې کوښښ شوی دی، چې دشلمې پېړۍ له شروع څخه بیا په هېواد کې دلومړۍ بشپړې سر شمېرنې دمقدماتي مرحلې د نتایجو تر خپرېدو پورې د افغانستان د نفوسو د اندازې په هکله واقعیت ته نږدې یو اټکل وړاندې شي.

که څه له ۱۳۳۵ه ش کال څخه را په دېخوا دپلان جوړولو Planning سیستم زموږ په هېواد کې د اقتصادي وسایلو، اهدافو او سیاستونو د سمون لپاره دیو موثرې وسیلې په توګه ومنل شو. خو بیا هم افغانستان په نړۍ کې د ډېرو محدودو هېوادونو له جملې څخه یو هېواد و چې

* ANNE HYDEد۱۷۰۲-۱۷۰۴کلونو تر منځ د انګلستان ملکه وه، نوموړې پر ۱٦٦۵م کال زېږېدلې ده، نکسون په خپل کتاب کې د ۱۹۹۹ year په نامه کتاب کې ددې دکوچنیانو شمېر لیکلی دی. چې سم نه دی. دهمدې ملکې په عصر کې د برتانیې د امپراتورۍ اساس کېښودل شو

د اوبایمې لسیزې تر شروع پورې هم هلته د نفوسو دشمېر معلومولو لپاره پر علمي او میتودیکو اساساتو باندې بنا یوه څېړنه نه وه ترسره شوې،لهکومو معلوماتو او ارقامو څخه چې دپنځو کلونو دپلانونو په ترتیب کې استفاده کېدله، یا دداخله وزارت له خوا د تابعیت دتذکرې پر اساس په نیمګړې توګه اټکل شوې وه اویا دا چې هغه اومه او شډل ارقام و چې د ۱۳۴۶هـ ش کال د زراعتي سروې په دوران کې ټول شوي وو. چې نتایج یې په طبیعي توګه د قناعت وړنه وو، همدا ډول که څه هم د افغان دیموکرات سروې ADS نتایج چې پر ۱۳۵۲هـ ش کال ترسره شول تر ډېره حده د اعتماد وړ و(د پخوانیو اټکلونو په پرتله) ولې دا ارقام د تفصیل او تنوع په لحاظ په داسې موقف کې نه و چې دیوه پلان(دملي اقتصاد په سطحه) د جوړولو ضرورت د نفوسو په هکله دمعلوماتو په لحاظ مرفوع کړي.

له پورتنیو توضیحاتو څخه څرګندېږي چې زموږ په هېواد کې د باور وړ ارقامو نشتوالی تل محسوس و، چې په دې برخه کې زموږ د هېواد توپوګرافي، د نفوسو جوړښت، د خلکو روحیات اقتصادي او نننې عوامل د مهمو خنډونو په ټوګه مطرح و. د توپوګرافۍ په لحاظ د افغانستان د نفوسو شمېرنه یو ډېر مشکل کار دی، ځکه چې په صعب العبوره غرونو باندې په محاطو درو کې په زرګونو منزوي او لرې پرتو ابادیو کې خلک ژوند کوي، چې هغوی ته رسېدل اسانه کار نه دی، له بلې خوا د افغانستان د نفوسو یوه لویه برخه د کوچیانو په توګه شپې سبا کوي، ددې خلکو دشمېرنې لپاره چې دایماً په حرکت کې دي، دیوې میتودولوژۍ ډیزاین او بیا د هغې عملي کول له مشکلاتو څخه خالي خبره نه ده.

سربېره پر دې ټکو افغانان په ډېر مشکل سره حاضرېږي چې دخپل ځان او یا د خپلې کورنۍ په هکله چاته معلومات ورکوي او

مخصوصاً چې دا ډول معلومات د دوی د کورنۍ د ښځو په هکلـه وي، همدا ډول هره احصایوي سروې او بیا مخصوصاً د زیاتو د ډېرو مصارفو ایجاب کوي او ددې تر څنګ معاصرې سر شمېرنې نه یـوازې پـه ملـي سطحې بلکې د محلاتو په سطحه هم یوه زیات شمېر کدر او پرسونل ته ضرورت لري. دمثال په توګه د افغانستان د لومړي بشپړې سـر شـمېرنې داجرا لپاره یوازې لس زره تنو سر شـمېرونکو تـه ضـرورت وو، بـالاخره ددې ټولو خبرو په څنګ کې مهمه خبره داوه چې ایا دولتونه دداسـې ملي پروژو د تطبیق او اجرا لپـاره علاقمنـدي لـري او کـه نـه؟ دداود خان د جمهوریت په وروستیو کلونو کې په هېواد کې د نفوسـو دشمېر دمعلومولو لپاره دیوې بشپړې سر شـمېرنې د پـروګرام د مطـرح کېدلـو لپاره اقدام وشو او په دې توګه د افغانستان د احصـایې مرکـزي اداری دملګروملتونو متحـد دنفوسـو داداري United Nations Fund For Pepolation Activities (UNFPA) په مالي او تخنیکي مرستې دلومړۍ بشپړې سرشـمېرنې پروګرام تر لاس لاندې ونیوه، چـې دثـور کودتـا او تـر هغـه وروسـته د روسیې یرغل او بیا پر ۱۹۹۲م کال د ائتلافي اداري منځ ته راتګ ددې پروګرام لړۍ قطع کړله، که چېرته دا بدمرغه حوادث نـه وای رامنځتـه شوي افغانستان به تر ننه د نفوسو خپله دربیمه بشپړه سر شمیرنه هم تـر سره کړې وای.

په افغانسـتان کـې د نفوسـو د څېړنـې پـه لحـاظ شـلمه پـېړۍ یـوه استثنایي پېړۍ ده په دې لحاظ چې: (۱) دشلمې پېړۍ په شـروع کـې زمـوږ د هـېواد د هزاره او یـا تـاجکو هېوادوالـو د شـمېر پـه انـدازه، ترکمنان، ازبکان، تاجکان او قیرقیزان له ماوراء النهر څخه زموږ هـېواد ته مهاجر شول چې په دې ارتباط به مفصل معلومات وړاندې شي.

(۲) ددې پېړۍ په وروستۍ ربع کې زمـوږ د هـېواد د نفوسـو یـو پـر دریمه برخه یانې د پنځو ملیونو په شاوخوا کې خلک بې ځایـه شـول،

چې دا رقم زموږ دهېواد له ټول نفوس سره د همدې پېړۍ په شروع کې مساوي دی.

(۳) همدا دول دشل کلنې جګړې په دوران کې (خصوصاً د ۱۹۸۹-۱۹۷۹ کلونو تر منځ) زموږ یو زیات شمېر هېوادوال یا ووژل شول او یا معیوب شول، چې د وژل شویو او معیوبینو شمېر دیونیم ملیون په شاوخوا کې دی.

افغانستان چې د شلمې پېړۍ په شروع کې دننني پاکستان دنفوسو تقریباً یو پر څلورمه برخه او د ایران دنفوسو یو پر دویمه برخه نفوس درلوده تقریباً د ۲۵ ملیونو نفوس په درلودلو سره یوویشتمې پېړۍ ته داخلېږي، په داسې حال کې چې د ایران د ٦۲ملیونو او پاکستان د (۱۳۵) ملیونو نفوس په درلودلو سره په یوویشمې پېړۍ ته داخلېږي.

دا مقاله باید په شلمه پېړۍ کې د نفوسو د تخمین په وړاندې کولو سره پیل شوې وای، خو څرنګه چې معمولاً د تاریخي پېښووقوع د زریزو او سلیزو له شروع او یا پای سره هم مهالي نه لري ، چې په دې کې ښه مثال د معاصر افغانستان تشکیل دی چې په ۱۷۴۷م کال کې وو نه په ۱۷۰۰م کال کې او یا د فرانسې انقلاب چې په ۱۷۸۹م کال کې پیل شو نه په ۱۸۰۰م کال کې او یا دا چې د جرمنیانو په اصطلاحWeit Politik دجرمنانو تر اتحاد وروسته په ۱۸۹۰ م کال کې پیل شو نه په ۱۹۰۰م کال کې . همدا ډول د بخار ماشین، د چاپ ماشین او برېښنا هم د پېړیو په شروع او یا ختم کې نه دي رامنځته شوي او د معلوماتو عصر Information age شروع هم ددې پېړۍ ختم ته منتظر پاتې نه شو. په دې لحاظ ما هم دا مقاله له ۱۹۰۰م کال څخه نه بلکې دعبدالرحمن خان د دورې له وروستیو کلونو څخه شروع کړه. چې په دې کلونو کې د هېواد د نفوسو دشمېر په هکله یو لړ اقدامات تر سره شوي دي که څه هم ددې اقداماتو په هکله مفصل معلومات په لاس کې نه شته ولې

دا تکی پرته لــه هـېڅ شک او تردید څخـه اعتبـار لـري چـې د امـیر عبدالرحمن خان پـه لاس جـوړ شـوې اداري پـوځ پـه موثـره تـوګه د شلمې پېړۍ تر نیمایي پورې په افغانستان کې خپل رول ولوباوه او دده د نفوسـو د بیـا مېشـته کېدلـو Re_ Settlement پـروګام او پالیسـۍ اثــرات دهېواد پر سیاسي جریـانونو کـې خپـل ځانـګړی ابعـاد لـري او زمـوږ دهېواد د تاریخي او کلتوري موازینو ترځنګ دملـي وحـدت د تـامین یوه مطمینه وثیقه ده.

میتودولوژي

ددې پېړۍ لـه شـروع څخـه بیـا د افغانسـتان دلومـړۍ بشپړې سـر شمېرنې د نتایجو تر خپرېدلو پورې، د هېواد د نفوسو دشمېر پــه هکلـه دیوه تخمین د وړاندې کولو لپاره د ۱۹۸۷م کال د بشپړې سر شــمېرنې د مقدماتي مرحلې له نتایجو څخه د اساس په توګه استفاده شــوې ده، ځکه زما په عقیده دا ارقام د ټولو هغو معلوماتو پــه پرتلـه چــې زمـوږ د هېواد د نفوسو په ارتباط راټول شوي دي د زیات اطمینان وړ دي، کـه څه هم د ۱۹۷۹م کال د جون پر میاشت په هــېواد کـې سرشـمېرنه تـر سره شوه خو دا سر شمېرنه د امنیتي مشکلاتو له امله ټول هېواد احتــوا نه کړ او یوازې د شمېر له لسو زرو ساحو څخه دنیمایي په شـاوخوا کـې وشــمېرل شــول. چــې پــه دې تــوګه ویـلای شـو چـې ددې نیمــګړي سرشمېرنې نتایج دټول هېواد په مقیاس د استفادې وړ نه دي، له بلــې خوا د همدې نیمګړي سرشمېرنې د ارقامو اعتبار د نفوسو په شمېر کې چې زموږ د څېړنې موضوع ده. له ۲،۵۰۰،۰۰۰ نه د زیاتو کوچیــانو پـه شمېر لږ شو. د یادولو وړ خبره داده چې پر ۱۹۷۸م کال د دوی نفــوس د ۱،۵ ملیونو تنو په شاوخوا کې و، چې د لومړنۍ بشپړې سر شمېرنې پــه مقدماتي مرحله کې تر لاسه شوي وو، چې دا تخمین د ADS تخمین تـه

هم چې پر ۱۹۷۳م کال ترسره شوی و او د کوچیانو شمېر یې ۱.۳ ملیونه تخمین کړی و هم نږدی دی، په دې توګه ما د نفوسو د تخمین لپاره د ۱۹۷۸م کال د سرشمېرنې مقدماتي مرحلي او ارقام چې په لاندې ډول وړاندې شوي وو د اساس په توګه نیولی دی.

ټول نفوس۱۵۱۰۸۰۰۰	تنه	۱۰۰فیصده
ښاري نفوس	۲۱۳۴۰۰۰	۱۴.۱۲
کلیوالي نفوس	۱۱۵۲۰۰۰	۷٦.۲۸
کوچیان	۱۴۴۹۰۰۰	۹.۵۹

اوس که وغواړو چې دهېواد نفوس ته د ۱۹۷۸م کال دمخه کلونو لپاره انکشاف ورکړو. واقعي مشکل را برسېره کېږي. ځکه چې موږ تر اویایمې لسیزې ښخه دمخه د هېواد د نفوسو د دودې په هکله معلومات نه لرو. له بلې خوا په همدې دوران کې د حیاتي احصایې منظم رکود هم نه شته چې دیوې سروې او یا سر شمېرنې په غیاب کې ځنې استفاده وشي که څه هم موږ د او یایمې لسیزې په دوران کې د نفوسو د طبیعې ودې په هکله دوه سیټه ارقام لرو چې ددې ارقامو لومړی سیټ د ۱۹۷۳م _ ۱۹۷۲کلونو ترمنځ په ADS پورې او دویم سیټ هم هغه ارقام دي چې د ۱۹۷۸م کال د سرشمېرنې له مقدماتو څخه تر لاسه شوي دي. چې ددې ارقامو پر اساس د نفوسو وده د هېواد د ټول نفوس لپاره ۲.۵۱فیصده او دښاري نفوس لپاره ۳.۲۰ فیصده او د کلیوالي او کوچي نفوس لپاره ۲.۴۱ اټکل شوی و، موضوع داده چې موږ نه شو کولای د هېواد نفوس دهمدې نرخ پر اساس د شلمې پېړۍ تر شروع پورې وسنجوو، ځکه چې ددې پېړۍ په شروع کې او بیا په اویایمې لسیزې کې د هېواد خلکو د ژوند شرایطو فرق درلود او ددې پېړۍ په شروع کې صحي اسانتیاوې ډېرې لږې وې او حتی د همدې پېړۍ تر نیمایي پورې هم چیچک، ملاریا ناروغیو زیات قربانیان درلودل او د بیا د شیوع لپاره مناسبې زمینې موجودې وې په

دې لحاظ ما دهغو فیصدو څخه استفاده کړې ده چې دملګرو ملتو دنفوسو د ادارې له خوا د وروسته پاتې هېوادونو لپاره د یوه ګروپ په توګه وړاندې شوي دي، چې دا فیصده په لاندې ډول دي:

۱۹۰۰	۱۹۲۰	۰.۷
۱۹۲۰	۱۹۴۰	۱.۱
۱۹۴۰	۱۹۵۰	۱.۳
۱۹۵۰	۱۹۵۵	۱.۰۵
۱۹۵۵	۱۹٦۰	۲.۰۸
۱۹٦۰	۱۹۷۸	۲.۵

په هېواد کې دنفوسو اندازې ته د پورتنیو نرخونو Rates پر اساس دشلمې پېړۍ تر شروع پورې پراختیا ورکړ شوې ده او په دې برخه کې له ۱۹۱۸م کال څخه بیا تر ۱۹۲۱م کال پورې هغه مهاجرین چې له ماورالنهر څخه افغانستان ته راغلي دي په دې محاسباتو کې په نظر کې نیول شوي دي، په همدې لحاظ ددې کلونو په دوران کې موږ د هېواد د نفوسو ډېربښت له پاتې کلونو سره توپیر لري.

همدا ډول له ګرانو هېوادوالو سره دمعلوماتو په خاطر د اتیایمې او نویمې لسیزې په دوران کې هم هغه ارقام وړاندې شوي دي چې دملګرو ملتونو د دیموکراتیک کلنۍ کې په تېرو ۲۰ کلونو کې خپاره شوي دي، دا چې ددې دوولسیزو په دوران کې د هېواد د نفوسو په هکله هېڅ ډول مستنده څېړنه نه شوې او له بلې خوا هغه ارقام چې په هېواد کې دشل کلنې جګړې په دوران د تلفاتو په هکله خپرېږي هم نیمګړي دي او همدا ډول د مهاجرینو دشمېر په هکله له ابتدا څخه ملاحظات شته او تر ټولو مهمه خبره داده چې ددې مهاجرینو فصلي تګ راتګ او یا د امنیتي ملاحظاتو پر اساس تګ او راتګ د هېواد د نفوسو شمېر د پاتې نفوس او مهاجر نفوس په تفکیک له مشکل سره مخامخ کړی دی

مفاهيم او تعريفونه:

ديموګرافي: (Demography):

دبل هر علم په شان موږ کولای شو چې ديموګرافي پـه محـدود او پراخ مفهوم سره تعريف کړو:

ديموګرافي په محدوده مانا کې هماغه رسمي ديموګرافي ده چـې دنفوسو د اندازې، توزيع جوړښت او تغيراتو پـه هکلـه بحـث کـوي، د نفوسو له اندازې څخه هدف د نفوسو شمېر يا تعداد، د نفوسو له توزيـع څخه هدف د نفوسو جغرافيايي استوګنځی دی او د نفوسو د جـوړښت څخه هدف د نفوسو څېړنه ده، د سن او جنس په تفريق او له تغير څخه هدف د نفوسو ډېرښت او يا کمښت په پام کې دی لکه مړينې، زېږېدنې او مهاجرتونه.

ديموګرافي په پراخ مفهوم کې يو لړ افغاني خصوصيات هـم احتـوا کـوي، لکـه اجتمـاعي خصوصيـات، اقتصـادي خصوصيـات، قومـي يـا ترافيکي خصوصيـات، دمدنـي حـالت څرنـګوالی، د زېږېدلـو ځای، د سواد او تعليم او تربيې په برخه کې معلومـات او همـدا ډول اقتصـادي خصوصيات (شخصي موقف، حرفه يا پيشه، اندسـتري او عـايد). پـه ډېر پراخ مفهوم سره ديموګرافي له نفوسو څخــه راوړل شـوي مسايل او د هغوی اقتصادي او اجتماعي ابعاد څېړي، لکه د نفوسو فشار پــه منـابعو باندې، فـاميلي پلانـنګ، ورتـه کېدنـه Assimimaltion ښاري پرابلمونـه او حتی د نفوسو ترمنځ د عوايدو د توزيع او له اقتصادي مرضونو څخــه د ا ستفادې ځينې اړخونه.

سرشمېرنه: Censun

له سرشمېرنې څخه هدف په ملي سطحه د ټول هېواد د نفوسو شـمېرل وي، دملګرو ملتونـو لـه خـوا د يـوه هـېواد د نفوسـو د ديموګرافيـک،

اجتماعي او اقتصادي خصوصياتو د پوهېدلو لپاره د سر شمېرنو توصيه کېږي.

دیوه هېواد د نفوسو پر شمېر او د هغوی د اقتصادي او اجتماعي خصوصیاتو باندې پوهېدل د اقتصادي پروګرامونو د طرحې، ارزیابي او کنترول په مقصد هم ضروري وي، دملګروملتونو په خپرونو کې د سر شمېرنې لپاره څلور لاندې خصوصیات په جلا توګه لست شوي دي:

فردي شمار: په سر شمېرنو کې باید هر فرد په جلا توګه وشمېرل شي او د هر فرد خصوصیات په جلا توګه ثبت شي.

کلیت یا بشپړتیا: سرشمېرنه باید ټول هغه خلک احتوا کړي چې په یوه معینه سیمه کې چې حدود یې مشخص شوي دي ژوند کوي.

هممهالي: سرشمېرنه باید په یوه معین وخت کې په ټوله هغه سیمه کې چې په نظر کې ده تر سره شي.

په معینو وقفو کې تکرار: سرشمېرنه باید په معینو وقفو کې یانې په هروه یا ۱۵ کلونو کې تکرار شي.

حیاتي احصائیه (VITAL STITISTICS)

سرشمېرنه د نفوسو دقیق تصویر په یوه معین زمان کې وړاندې کوي، مثلاً د ۱۳۵۸ کال د جوزا په میاشت د افغانستان نفوس۱۵،۵ ملیونه وو، خو حیاتي احصائیه د نفوسو ډینامیک اړخ یا د یوه هېواد په نفوسو کې په دوامداره توګه تغیرات ثبتوي، لکه زیږېدنې، مړینې، طلاق، ودونه.

نمونه اخیستل (Sampling)

نمونه اخیستل په احصائیه او دیموګرافۍ کې یو ډېر مهم مبحث دی، چې دیوه جمیعت population د وسعت په لحاظ څېړونکي مجبور دي چې د نمونې اخیستلو له میتود څخه استفاده وکړي، په دې توګه

چې له یوه پراخ جمیعت څخه یوه کوچنۍ نمونه دهماغــه جمیعـت د نماینده یا معرف په توګه تر مطــالعې لانـدې نیـول کـېږي او د څېړنــې نتایج پر ټول جمیعت باندې په پام کې نیــول کــېږي، نمونـه اخیسـتل مختلف ډولونه لري چې ډېر مهم یې تصادفي نمونه اخیستل یــا Rondam او سهمیه وي نمونه اخیستل یا Quota دي.

دسر شمېرنې یا د نفوسو دشمېر میتودونه

معاصرې سرشمېرنې په یوه معینه سـیمه کـې د ټول نفـوس د شـمېر لپاره ډیزاین کېږي. دا مفهوم هسې چـــې پـه اول نظـر کـې معلومـېږي ساده کار نه دی او پـــه عمـل کـې لــه ډېرو مشـکلاتو سره مـل وي، دا موضوع چې څوک باید چېرته ووېشل شي تل پــــه عمـَل کـې مشـکلاتِ رامنځته کوي. دشمېرنې لپاره دوه میتودونه موجود دي:

۱. De facto میتود: په دې میتود کې نفوس په هغه ځای کې چې دسر شمېرنې په وخت کې لیدل کېږي شمېرل کېږي.

۲. De jure: په دې میتود کې نفوس ددوی د اوسېدلو یـــا استوګنځي کې شمېرل کېږي. په افغانستان کې لومړنۍ بشپړې سر شمېرنې میتود D ejure و او د اقامت لپاره معیار هم شپږ میاشتې و.

دوه چنده کېدلو موده Doubling period

له دې اصطلاح څخه هـدف د نفوسـو د ډبـل کېدلـو یا غـبرګېدلو موده ده، په دې مفهوم چې نفوس دیوې مانا فیصدي ودې په درلودلو سره په څومره موده کې دوه چنده کېږي. د نفوسو ددوه چنده کېدلــو د مودې دپیداکولو لپاره تر ټولو سـاده طریقـه داده چـې د ۷۰ عـدد د نفوسو د ودې پر فیصدي ووېشل شي، د مثال په توګه کـه دنفوســو وده ۲ فیصده وي په دې صورت کې نفوس د ۳۵=۷۰ کلونو پــه دوران کـې دوه چنده کېږي.



په شلمه پېړۍ کې
د هېواد نفوس

دادی دویمه زریزه هم پای ته ورسېده.

زریزه یا Millennium یو، یوارخیز مفهوم دی، ځکه چې یوازې د عیسوي تقویم پر اساس بنا شوی دی او استعمال یې هم د نولسمې پېړۍ تر اواخرو پورې په نړیواله سطحه عمومیت نه و موندلی. که د یهودیانو د تقویم پر اساس وګورو، دا کال (۵۷۵۹) دی، چې له نوې زریزې څخه ډېره فاصله لري او د هندي تقویم پر اساس مور تېر کال شپږمې زریزې ته داخل شو.

او د اسلامي تقویم پر اساس سږکال ۱۳۸۰ ل کال دی، د بشر په تاریخ کې دا لومړی زریزه ده چې بشر د هغې له راتګ څخه دمخه لا خبر دی، ځکه زر کاله مخکې د عیسوي نړۍ په ډېرو سیمو کې خلک د هغې له راتګ څخه خبر نه وو، دلیل یې دا و چې په هغه وخت کې چا چې جنتري نه وې او په دې توګه له جنترۍ څخه استفادې عمومیت نه و موندلی، په هغه وخت کې د خلکو توجه زیاتره د فصلونو تغیر ته ځانته اړوله، نه د کلونو تغیر. په دې لحاظ ډېر محدود خلک پوهېدل چې څه وخت کال نوی کېږي.

د دویمې زریزې د راتګ انګازې نه یوازې په منځنۍ او لوېدیزه اروپا کې خپرې وې، ځکه چې زر کاله مخکې، کله چې دویمه زریزه پیلېده، کلیسا د دنیا په هکله اوازې خپرې کړې وې، خلکو په تشویش او اضطراب کې ژوند کاوه، ژوند ته امید قطع شوی و او خلکو د کلیسا

شلمې پېړۍ ته په داخلېدو سره د افغانستان د تاریخ تر ټولو زیات C
ontrovrsial شخصیت امیر عبدالرحمن خان مړشو.

امیر عبدالرحمن خان په ډېرو بحراني او بې ثباتو شرایطو کې د افغانستان د چارو واګې په لاس کې ونیول، خو دی بریالی شو چې دخپل درایت، کارپوهنې،زیار او زحمت په نتیجه کې دمرکزي دولت اساس کېږدي، دده په زمانه کې دملي اردو اساس کېښودل شو او ددې اردو توپونو، ټوپکو کارتوسو او بارودو او حتی د یونیفورم زیاته برخه هم په هېواد کې د ننه تولیدېدله، د امیر عبدالرحمن خان په عصر کې د عصري اداري اساس کېښودل شو، په پولي او مالي برخو کې اصلاحات راغلل، قضایي احکام توحید شول او په زراعتي، صنعتي او عمراني برخو کې نه هېرېدونکي او بې سارې اقدامات تر سره شول.

امیر عبدالرحمن خان د قدرت مدعیان وځپل او په هېواد کې یې د بې ثباتۍ او بې نظمۍ عوامل له منځه یو وړل او د متمدن ژوند منځته راتګ او د اجتماعي او اقتصادي پراختیا او کلتوري نوښتونو لپاره یې لاره اواره کړه. امیر عبدالرحمن خان لومړی افغان حکمران و چې د افغاني ټولنې په اجتماعي او اقتصادي ژوند کې د احصائیو او د نفوسو په هکله د معلوماتو د ټولولو اهمیت ته متوجه شو او د خلکو د مادي او معنوي نېکمرغۍ او سعات سره یې علاقه وښودله. نوموړي پر ۱۸۹۲م کال په هېواد کې د رسمي سر شمېرنې د اجرا حکم د ملت د مختلفو عناصرو د تشخیص او د پوځي مقاصدو په منظور صادر کړ*.

---

* احمدشاه بابا کله چې پر ۱۷۵۰م کال پر هند باندې له دویم برید څخه کندهار ته بېرته راستون شو نو امر یې وکړ چې د افغان ولس (پښتنو) احصائیه دې واخیستل شي. له تاریخي لیکنو د مطالعې څخه څرګندېږي چې په دې وخت کې یا پښتانه شمېرل شوې وو او یا دا چې ددوی په هکله یو اټکل د احمدشاه بابا حضور ته وړاندې شوی چې ددې پېړۍ په شروع کې د افغانستان د نفوسو په هکله Inperial Cazatteer of India کې مفصل معلومات شته. ددې منبع په حواله زموږ د هېواد نفوس ددې پېړۍ په شروع کې د څلورنیم او پنځه ملیونو په شاوخوا کې وو. دې نفوس دننني افغانستان په قلمرو کې ژوند

که څه هم ددې سرشمېرنې د میتودولوژي د اجرا د جزئیاتو او د ارقامو د تصنیف Tobolation په هکله نن معلومات په لاس کې نه شته. خو داسې معلومېږي چې په دې سر شمېرنه کې د محل بخود، قاضیانو او اداري کارکوونکو او مخصوصاً دیني علماءو فعاله ونډه اخیستنه وه. همدا ډول ددې سرشمېرنې نتایج په یوه مستقله جزوه کې هم نه دی لیکل شوی او ان د امیر په خاطراتو کې هم دې مسئلې ته اشاره نه ده شوې، خو کله چې لار د تورزون د کابل سفر څخه بېرته برتانوي هند ستنېږي. د افغانستان د نفوسو په هکله له ځانه سره د ۵,۰۰۰,۰۰۰ تخمین راوړی، چې په هغه وخت کې واقعیت ته تر ټولو نږدې تخمین* و.

همدارنګه قاضي عبدالقادر چې د افغانستان په هکله زیات معلومات درلودل او د امیر شیرعلي خان په زمانه کې دده تر نظارت لاندې د کابل د ښار سرشمېرنه ترسره شوې وه، د افغانستان نفوس پرته د عربو او کافرستان څخه ۴۰۰۴۰۰۰ تنه څرګند کړی و. د مخه تر دې چې دشلمې پېړۍ په شروع کې د افغانستان د نفوسو په هکله مفصل توضیحات وړاندې شي. دیوه ټکي یادونه ضروري ده. چې امیرعبدالرحمن خان " د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو او د امنیت د تامین په منظور د هغو سیمو څخه چې هلته د نفوسو تکاثف زیاد و. پز زراعتي منابعو د فشار د کموالي په منظور یې د نفوسو د بیا ځای پرځای کېدلو Resettlement پروګرام تر لاس لاندې ونیوه او د کابل هرات د شاوخوا سیمو اضافه نفوس یې د استوګنې څخه خالي شمالي او شمال غربي سیمو ته ولېږدول، د امیرعبدالرحمن خان او ارتدام د سیمې په ابادولو کې ډېره مرسته وکړه او دا سیمې چې د مخه تر دې

کاوه په دې مفهوم چې نه دې وخت کې د برتانوي هند سرحدات د ۱۸۹۳م کال د نومبر د مباشتې د معاهدې پر اساس نور هم د افغانستان ختیځ خوا ته غزېدلي وو

منزوي او وروسته پاتې وي، د هېواد په اجتماعي او اقتصادي ژوند کې فعالې شوې"ددې پېړۍ په شروع کې د افغانستان د نفوسو په هکله Imperial Gazetteer of India کې مفصل معلومات شته. ددې منبعې په حواله زموږ د هېواد نفوس ددې پېړۍ په شروع کې د څلورنيم او پنځه مليونو په شاوخوا کې و. دا نفوس د نننۍ افغانستان په قلمرو کې ژوند کاوه. په دې مفهوم چې په دې وخت کې د برتانوي هند سرحدات د ۱۸۹۳م کال د نوامبر د مياشتې د معاهدې پر اساس نور هم د افغانستان ختيځ خواته غزېدلي وو.

انګليسي منابعو د افغانستان د نفوسو او د هغه د قومي جوړښت په هکله له ۱۸۰۸ م کال را په دېخوا ارقام نشر ته کړي دي. د انګليسي منابعو لومړی تخمين د الفنټون پر مشاهداتو بنا دی، نوموړي د افغانستان نفوس د شجاع الملک په زمانه کې ۱۴۰۰۰۰۰۰ تنه اټکل کړی و. چې ددې ۱۴۰۰۰۰۰۰ تنو له جملې څخه :

افغانان (پښتانه) ۴،۳۰۰۰۰۰ تنه

بلوڅان ۱،۰۰۰۰۰۰ تنه

تاتاران ۱،۲۰۰۰۰۰ تنه دهغې له جملې څخه هزاره ګان ۳۰۰،۰۰۰

دفارسي ژبې ويونکي د تاجکو په شمول ۱،۵۰۰،۰۰۰

هندي قومونه ۷۰۰ ۰۰۰ د

کله چې پنجاب، ملتان، سند، کشمير او حتی د پښتونخوا ځينې سيمې د پېښور په شمول چې دپښتنو سياسي او کلتوري مرکز و، دتيمورشاه د زامنو او پاينده خاني سردارانو د بې اتفاقيو او خپل منځي جګړو په نتيجه کې برتانوي هند لاس ته ورغلې د افغانستان نفوس تقريباً ۶۰ فيصده کم شو او حتی د برتانوي هند د لومړۍ بشپړې سر شمېرنې د ارقامو پر اساس ۱،۸ مليونه پښتانه هم له هېواد څخه د باندې پاتې شول. پر ۱۸۷۲م کال برتانوي هند د افغانستان د نفوسو په هکله يو بل تخمين خپور کړ چې د اول تخمين پر اساس چې د

Macqregor له خوا تر سره شوي و د افغانستان نفوس ۴۹۰۰۱۰۰۰ تنه اټکل شوی و، چې له دې جملې څخه:

پښتانه	۲,۲۵۹۰۰۰ تنه
کوشتانیان	۲۰۰,۰۰۰ تنه
هندوان او جټان	۵۰۰,۰۰۰ تنه
تاجکان	۵۰۰,۰۰۰ تنه
قزلباشان	۱۵۰,۰۰۰ تنه
ایماق او هزارګان	۴۰۰,۰۰۰ تنه
ازبکان	۳۰۰,۰۰۰ تنه
کافران، چترالیان	۱۵۰,۰۰۰ تنه

په همدې منبع کې د افغانستان د نفوسو دقومي جوړښت په هکله هم څرګندونې شوې دي چې زموږ د هېواد نفوس دقومي جوړښت په لحاظ په لاندې ډول وو:

ټول نفوس ۴,۵_۵,۴ مليونو په شاوخوا کې

له هغې جملې څخه:

تاجکان* ۹۰۰۰۰۰ تنه

(دیګانان، تاجکان، پنجشیریان فارسي ژبي شوي پښتانه)

هزارګان ۵۰۰,۰۰۰ تنه

ازبکان ۳۰۰,۰۰۰ تنه

* په افغانستان کې ټول هغه خلک چې فارسي وايي او تاتاري نسب ونه لري او په مذهبي لحاظ شعیه ګان نه وي د تاجک اطلاق ورته کېږي. د انګلیسي منابعو دا اشتباه چې له عامه ذهنیت څخه یې نشت کړی و دهمدې پېړۍ په نیمايي کې د افغاني مقاماتو له خوا د رسمیاتو ته هم خپله لاره پرانیستله. پژواک یو قدم مخکې کېښود او حتی ازبکان او ایماقان یې هم په تاجکو کې شامل کړل او ددوی فیصدي یې په مجموعي نفوس کې ۳۱ فیصده ولیکله، ورته اشتباه د واک فونديشن له خوا هم تکرار شوه او دا پلایې ټول فارسي ژبي تاجک ونومول، په داسې حال کې چې په اتنیکي لحاظ د تاجکو شمېر زموږ په هېواد کې کې تر ازبکو او هزارګانو زیات نه دی.

ایماقان	۱۸۰،۰۰۰ تنه	
قزلباشان	۵۰۰۰۰ تنه	
نورستانیان	۶۰۰۰۰ تنه	
هندوان	۳۵۰۰۰ تنه	
غلجي او دراني پښتانه	۱،۵۰۰،۰۰۰	
ټول پښتانه دغلجیو، درانیو،		۲،۶۰۰،۰۰۰ تنه

ساپیانو، کرلانیانو او نورو قومونو په شمول

ترکومه ځایه چې د تاریخي اسنادو له مطالعې څخه څرګندېږي، د امیر حبیب الله خان په ټوله دوره کې د نفوسو د شمېر په هکله کوم اقدام نه دی تر سره شوی، که څه هم د امیر په دوره کې فیض محمد خان کاتب د امیر په امر سراج التواریخ ولیکه او په دې اثر کې د معاصر افغانستان له جوړېدلو څخه بیا د امیر عبدالرحمن خان د سلطنت تر پایه ټولې پېښې او وقایعې په تفصیل ثبت شوې، ولې په دې کتاب کې دلیکوال په عصر او زمان کې د هېواد د نفوسو په هکله هېڅ ډول معلومات نه شته، که څه هم فیض محمد د کتاب په شروع کې دافغانستان دنفوسو په هکله یو لړ ارقام وړاندې کوي، خو دا ارقام نه د احمدشاهي افغانستان ۱۷۷۲_۱۷۴۷ پورې اړه لري او نه دده په عصر او زمان پورې. بلکې دا ارقام د شجاع الملک په دوران پورې اړه لري او فیض محمد خان دا ارقام دکابل دسلطنت د حالاتو له کتاب څخه چې الفستون لیکلی دی اقتباس کړي دي او په دې ارقامو کې یې یولړ تصرفات هم کړي دي، پرته له دې چې دهغه دلایل څرګند کړي. مثلاً ټول نفوس یې د ۱۴ ملیونو پر ځای ۱۵ ملیونه لیکلی دی، دپښتنو شمېر یې د ۴،۳ پرځای ۴،۵ لیکلی دی او له تاجکو څخه یې هېڅ نوم نه دی اخیستی. او همدا ډول په ټول نفوس کې یې د هندوانو شمېر د ۵،۷ څخه ۵،۵ ملیونو ته لږ کړی دی.

په هر صورت ددې پېړۍ په شروع کې پښتانه چې ديوه واحد دولت اتباع پر څلورو سيمو وويشل شول:

په افغانستان کې ددې پېړۍ په شروع کې ۲.٦مليونه پښتانه اوسېدل چې دټول نفوس ٦۲ فيصدي يې جوړوله.

۱,۸ مليونه پښتانه په ازاد سرحد کې اوسېدل دا خلک که څه هم نور د افغانستان اتباع نه شمېرل کېدل او د ډيورند معاهدې دوی دخپل هېواد له تابعيت څخه محروم کړي وو خو په مقابل کې انګليسانو هم پر دې سيمو تسلط نه درلود په دې سيمو کې تل دبرتانوي هند پرضد قيامونه موجود وو.

۱۹۹۰۰۰ تنه پښتانه د برتانوي هند د بلوچستان په ايالت کې اوسېدل چې له دې جملې څخه ۱۳۴۰۰۰ تنه کاکړان او پاته ترينان، درانيان. بړيڅ او نور قومونه وو.

۱.۱۴۲ مليونه تنه د برتانوي هند په صوبه سرحد ايالت کې اوسېدل چې په دې سيمو کې د برتانوي هند تسلط موجود و.

ددې پېړۍ په شروع کې پښتنو د ٦ مليونه نفوس په درلودلو سره داريانې ژبو د ويونکو په منځ کې لومړی مقام درلوده، تر دې وروسته فارسانو د ۵ مليونه نفوس په درلودلو سره دويم مقام درلوده او په دويم، څلورم او پنځم موقف کې په ترتيب سره کردان بلوڅان او تاجکان وو.

پښتانه د همدې پېړۍ په شروع کې نه يوازې د ايراني ژبو د ويونکو په منځ کې لومړی مقام درلوده، بلکې د سيمې تر ټولوستر قوم هم و. تر پښتنو وروسته دسيمې ستر قوم فارسان و چې ۵ مليونه نفوس يې درلوده او تر هغوی وروسته ازبکانو ۴ مليونه نفوس په درلودلو سره دريم مقام درلود، دهمدې پېړۍ په شروع کې مجموعاً د ۱.۵ مليونو په شاوخوا کې تاجکان اوسېدل. چې په افغانستان، تاجکستان او ازبکستان کې مېشته وو.

د امير امان الله خان په زمانه کې که څه هم په اجتماعي، اقتصادي او کلتوري برخو کې يو لړ اصلاحات رامنځته شول، خو د نفوسو دشمېر معلومولو په برخه کې اقدام ونه شو. د امير امان الله خان په دوره کې په ماورالنهر کې دشوروي روسې پر ضد قيامونه شروع شول. ددې قيامونو په نتيجه کې له ماورالنهر څخه افغانستان تـه مهاجرتونـه شروع شول. دنفوسو دې حرکاتو نه يوازې د افغانستان دنفوسو په اندازې بلکې د نفوسو پر قومي جوړښت هم د ملاحظې وړ تاثير پرځای پرېښود، دا قيامونه چې دلومړي لپاره په نرخنامه کې پر ۱۹۱۸م کال شروع شول تر ۱۹۲۶ کال پورې يې دوام وکړ، ددې قيامونو په نتيجه کې ددې سيمې يو پر درې برخې خلک يا له روسانو سره په مخامخ جګړه کې مړه شول يا داچې له قحطۍ څخه تلف شول او يا دا چې خپله خاوره او وطن يې پرېښود او افغانستان ته مهاجر شول.

ترکمنان : دوی په عمده توګه په اقچه، اندخوی او شبرغان کې مېشته شول او دا سيمې د ماورالنهر دچارجوي تخت بازار او ترکي سيمو له اوسېدونکو څخه ډکې شوې، دې مهاجرينو د ترکمن د مشر قوم اسيري ARSARI او ګونيم QIVNEM قره باکول او اولګ تيپي په قبايلو پورې اړه درلوده. دوی ټول له خپلو قومي مشرانو سره يوځای مهاجرشول. پر ۱۹۲۶م کال قراقرمKarakram او شرقي بخارا څخه مجموعاً ۴۲۵۸۰کورنيو افغانستان ته مهاجرت کړی و، چې په عمده ډول د افغانستان په شمال لويديځ سيمو کې مېشته شوې وې او ددوی مجموعي شمېر ۲۲۵۳۰۰ تنه و.

ازبکان : د ازبکانو شمېر دترکمنانو په مقايسه لـږ وو. دوی په عمده توګه د ازبکو له نيمه مېشته Sehled قبايلو څخه لقي، دورمنDourmen قتګن Qatagvn کونګريت Qungret قراوق تاز او قراق لـه قبايلو څخه وو. دوی د رواني پېرۍ دشلمې لسيزې لـه نيمايي څخه افغانستان تـه

مهاجرت شروع کړ. دمثال په توګه پر ۱۹۲۰ م کال د فرخ اباد دسي تومن په سيمه کې دلقي دقبيلې شمېر د ۳٦۰۰۰_ ۳۵۰۰۰ تنو تر منځ و چې ددې جملې څخه ۱۲۰۰۰ تنه افغانستان ته مهاجر شول، ۱۰۵۰۰ تنه له منځه لاړل او دقيام تر ختمېدلو وروسته په دې سيمه کې يوازې ۱۴٦۲۰ تنه پاتې وو.

تاجکان : د تاجکانو شمېر په دې مهاجرتونو کې لړ وو، ددې دليل دا وو چې تاجکان يو مېشته قوم و، په دې برخه کې د زياتو معلوماتو لپاره د ګرانو لوستونکو توجه لاندې جدول ته را اړوم:

په افغانستان کې دمنځني اسيا مهاجرين (۱۹۲٦م)

ملیت	اصلیت	دکورنیو شمېر	دکورنۍ متوسط غړي	دمهاجرینو شمېر
ترکمن کرلي- تخته بازار		۴۲.۵۸۰	۵,۳	۲۲۵۳۰۵
تاجک-ازبکهمور-قرغون- تپه کولاب- جیکول		۴۴.۰۰۰	۴.۷	۲۰۸۸۰۰
تاجک ازبک سرخان دریا		۸۰۰۰	۵	۴۰۰۰۰
تاجک درواز-		۲۵۰		۲۵۰
قرقیزهرقرتیغن		۱۳۰۰	۵	٦۵۰۰
قرقیز شرقي پامیر		۲۰۰	۵	۱۰۰۰
تول: -		۹٦۰۸۰	-	۴۷۹۸۵۷

که څه هم ددې پېړۍ له شروع څخه د افغانستان دولت دهېواد دنفوسو په هکله د ارقامو پر خپرولو شروع وکړه او د افغانستان په کلنيو کې به دا ارقام درج وو خو دا ارقام دهېواد د نفوسو له واقعي شمېر څخه تل جګ و.

دهېواد د نفوسو دشمېر په هکله پر ۱۹۳۷م کال دتابعيت د تذکرو پر اساس يو رقم وړاندې شو. چې دا اټکل د ۷,۰۰۰,۰۰۰ تنو په شاوخوا کې وو، دا اټکل واقعيت ته نږدې يو اټکل و او تر ۱۹۴۰م کال پورې په نړيوالو خپرونو کې زموږ د هېواد د رسمي اساس په توګه ليدل کېده.

تر دې وروسته د څلويښتمې لسيزې په دوران کې د افغانستان دولت دوه تخمينه نور هم وړاندې کړل چې دلومړی تخمين پر اساس چې د همدغې لسيزې په شروع کې ترسره شو، د هېواد نفوس دلسو مليونو په اندازه تخمين شو او دويم تخمين چې پر ۱۹۴۶م کال ترسره شو دهېواد نفوس يې د ۱۲,۰۰۰,۰۰ تنو په شاوخوا کې اټکل کړ، چې دا دواړه اټکلونه له واقعيت څخه لرې و. دا وروستی اټکل تر ۱۹۵۳ م کال پورې د افغانستان د نفوسو درسمي احصايې په توګه معرفي کېده.

پر ۱۹۵۴م کال د افغانستان دولت يو بل تخمين وړاندې کړ چې ددې تخمين پر اساس د افغانستان نفوس د ۱۲۶۱۵۱۴۶ تنو په اندازه اټکل شوی و.

د شپېتمې لسيزې په شروع کې دولت د افغانستان نفوس ۱۳۲۶,۰۰۰ تنه تخمين کړ. ددې لسيزې په شروع کې ددولت د تخمين تر څنګ يو لړ نور اټکلونه هم وشول. له هغې جملې څخه يو اټکل دروسي مقاماتو له خوا وشو. چې ددې اټکل پر اساس د افغانستان نفوس د ۹.۵ مليونو په شاوخوا کې و. بل اټکل دونالد . ن. و ولو له خوا وړاندې شو چې نوموړي د افغانستان نفوس د ۹,۰۰۰,۰۰۰تنو په اندازه تخمين کړی و، چې د مختلفو ژبو ويونکو شمېر په لاندې ډول و:

ارياني ژبې	نوري ژبې
فارسي ۲,۷۸,۰۰۰۰	پشه يې
پښتو ۵,۰۰۰,۰۰۰	کوابه ماني ۸۰۰۰
بلوڅي ۲۰,۰۰۰	تيراهي
پاميري ژبې	ترکي ژبې
شغناني ۴۵۰۰۰	ازبکي ۸۲۰,۰۰۰
دافي	ترکمني ۲۰۰,۰۰۰
منجاني	قرقزي ۳۰۰۰۰
شکاکي	قره کاپاک ۲,۰۰۰
نورې ژبې	نورې ژبې
اورمړي	مغولي

پراچي ۲۰۰۰	کرولي ۱۳،۰۰۰
داروېک ژبي	عربي
کافري ژبي	راخوږنا
کاڅي	براهوي
ويګلي ۶۰،۰۰۰	اشکون
	پرامون

په همدې وخت کې دديموګرافي يو بل پوه يوې د افغانستان لپاره د ۱۱،۰۰،۰۰۰ مليونه نفوس ترټولو واقعيت ته نږدې تخمين کړي نوموړی په دې عقيده و چې د افغانستان دنفوسو لپاره تر ټولو ښه ppraach دادی چې د افغانستان نفوس د ايران د نفوس نيمايي فرض شي، دده دا تخمين پر دې فرضيه بنا وو.

ايران د افغانستان دوه چنده د کرهنې ځمکې لري او زراعت په دواړو هېوادونو کې دمعيشت اصلي وسيله ده. په دې توګه نوموړي د هر ډول واقعي شواهدو په غياب کې د افغانستان نفوس ۱۱ مليونه تخميناوه، په داسې حال کې چې دده تر تخمين د ولبراو روسي منابعو تخمين واقعيت ته نږدې و، دې ټکي ته متوجه نه وو چې ايران د ملاحظې وړ ښاري نفوس درلوده او په ايران کې د اقتصادي فعاليتونو حجم تر افغانستان زيات و او حتی د همدې پېړۍ په شروع کې د ايران په مليونو نفوس په ښارونو کې اوسېده دا او دوی دلاسي صنايعو راکړې ورکړې او په نورو فعاليتونو بوخت و، همدا ډول په ايران کې يو زيات شمېر خلک په پوځ او اداراتو کې مصروف وو او د ملاحظې وړ شمېر روحانيون موجود وو ددوی شمېر په متناسبه توګه د ايران په نفوس کې د افغانستان تر نفوس زيات وو.

د افغانستان دولت دهېواد نفوس د اوبايمې لسيزې په شروع کې ۱۶۵۱۵۰۰۰ تنه تخمين کړ، په داسې حال کې چې د نړيوال بانک تخمين په دې وخت کې ۱۴ مليونه وو.

د خپرو شـویو آوازو پـر اسـاس، د دې الهـي مصیبـت د نـزول شـپې او ورځې شمېرلې. زر کاله وروسته نن موږ د دویمې زریزې پای ته رسـېدو شاهدان یو. ولې نن بشریت ته لوی خطر په اوازو نه دی، بلکې واقعـي جنبه یې موندلې ده او که بشري ټولنه په ګډه د ځمکـې د کـرې Global د دوام او نېکمرغۍ په خاطر د تفاهم او روغې جوړې لارې ونه نیسـي. د ځمکې کُره به د انسان په لاس پو پناه شي.

سل کاله دمخه د امریکا د پرس اسوېشن American press Associaltion د امریکا د پوهانو یوه ستره ډله یـوه سیمینار تـه راوبللـه، چـې پـه سـلو راتلونکو کلونو کې د بشر د ژوند پر مختلفو اړخونو نظر وړاندې کـړي، د سیمینار برخوالو په متفقه توګه د بشر د راتلونکي په هکله خوشـبیني څرګنده کړه، د هغوی په عقیده په راتلونکې پېړۍ کې به ښځې د رایې ورکولو حق ترلاسه کړي(*)

له ټلیفون څخه استفاده به عمومیت ومومي او برېښنایي مزي بـه پـه ښارونو کې وغزېږي. په همدې وخت کې د امریکا پاتنت Patant اداري کمشنر (چارلس، ایچ دیول) امریکایي مقاماتو ته پـه یـوه استهزایه کـې ولیکل چې د پاتنت اداره دې نوره وتړل شي. ځکه چې "هـرڅه چـې کېدی شوای. اختراع شوي دي او نور څه نه دي پـاتې چـې اختـراع شي". په شلمه پېړۍ کې د بشر د پرمختګ په هکله به همدومـره کـافي وي، چې وویل شي: همـدې اداري د سـلو کلونـو پـه دوران کـې تـر څلورو بلیونو زیات پاتینتونه ثبت کړل همدا مطلب به په دې پېړۍ کې د بشر د ترقۍ او لوړتیا د ابعادو د څرګندولو لپاره کـافي وي او زه ډاډه یم چې د سیمینار ښاغلي ګډون کوونکي به په دې برخه کې په تفصیـل

(*) په متحدو ایالاتو کې ښځو پر ۱۹۲۰م کال د رایې ورکولو حق ترلاسه کـړ. ورتـه حـق ښځو پـه انګلستان کې پر ۱۹۱۸م کال ترلاسه کړی و په دې تفاوت سره چې یوازې ښځو دا حق د ۳۰ کلونـو د عمر تر بشپړېدو وروسته ترلاسه کاوه.

په افغانستان کې دلومړي ځل لپاره پر ۱۹۷۲ کال د نفوسو د سروې له علمي میتودونو په استفاده شروع شوه، دا سروې چې دملي دیموګرافي سروې ده National Demographic Sarvyer (Ads) په نامه یادېږي، یو کال دوام یې وکړ. دې سروې یوازې دهېواد مېشته Seltled نفوس احتواکړ، دکوچیانو سروې د ۱۹۷۴ م کال ددوبي لپاره پلان شوې وه، چې عملي نه شوه. همدا ډول څرنګه چې په افغانستان کې دحیاتي احصائې مناسب ارقام موجود نه وو په دې لحاظ د لوی کابل په سروې کې د تولیداتو او وفیاتو سروې هم شامله شوه. دا سروې د امریکي د نړیوالې پراختیا اداري
USAID له خوا تمویل شوه.

ددې سروې په نتیجه کې د افغانستان مېشته نفوس شمېر ۱۱،۵ ملیونه اټکل شو. ADS دکوچیانو لپاره د ۱،۳ ملیونو تخمین وړاندې کړ*. چې دا تخمین ددولت دخپرو شویو ارقامو په مقایسه یو ملیون تنه لږ و، ددې سروې په نتیجه کې د افغانستان د نفوسو وده ۲،۲ فیصده تخمین شوه. چې د ګاونډیو هېوادونو په پرتله ټیټه وه او په دې نرخ کې زموږ دهېواد نفوس په ۳۱.۷ کلونو کې دوه چنده کېده. ددې سروې پر اساس ۱.۵ ملیونه تنه په ښارونو او ۱۰.۳۰ ملیونه تنه په کلیو کې اوسېدل. دکابل ښار نفوس ۵۹۷۰۰۰ تنه، د کندهار نفوس ۱۶۰۰۰۰ تنه. د هرات نفوس ۱۱۰۰۰۰ تنه تخمین شوي وو. د ADS وښودله چې په افغانستان کې د ۱۹ ۱۸ کلونو ترمنځ نجونو څخه ۵۰ فیصده واده شوې دي.

* که څه هم ددې سروې ارقام د ټولو هغو اټکلونو په مقایسه واقعیت ته نږدې وو چې تر دمخه ترې زموږ د هېواد د نفوسو په هکله ترسره شوي وو، خو د دولت له دې ارقامو څخه په دې برخه کې یو ښه مثال په اوه کلن پلان کې دهېواد د نفوسو ارقام دی چې ددې ارقامو په موجودیت کې دهیواد د نفوسو او همدا ډول د نفوسو تکنیک د کوچي او مېشته په توګه به ناواقعي ډول سره وړاندې شوي دي.

يوازې ۵ فيصده ښځې باسواده دي او ۱۰ فيصده ښځې د کار په قواوو کې Laboor Farce کې شاملې دي، د توليداتو نرخ په زرو کې ۵۳ - ۵۰ او د دفياتو (مړينو) نرخ په زرو کې ۳۲- ۲۸ تر منځ دی، ددې سروې پر اساس څرګنده شوه چې دهېواد يو پر درېيمه برخه کوچنيان دمخه تر دې چې ۵ کالو عمر ته ورسېږي مري. دا نسبت په ښارونو کې چې هلته په نسبي توګه روغتيايي اسانتياوې شته يو پر خلورو دی، همدا ډول په دې سروې کې ثابته شوه چې د افغانستان نفوس يو ځوان نفوس دی چې ۱۷.٦ فيصده اوسېدونکي تر ۵ کالو لږ عمر لري. او ۴۴۰۷ فيصده نفوس تر ۱۴ کالو لږ عمر لري.

په هېواد کې لومړۍ ښشېره سر شمېرنه :

پر ۱۳۵۲ کال د احصائي مرکزي اداره تاسيس شوه، ددې اداري هدف په لاندې ډول و:

د احصائې ديوه مرکز او علمي سيستم منځ ته راوړل او پراختيا چې دهېواد دعيني شرايطو او علمي معيارونو مطابق د اقتصادي او اجتماعي پراختيايي پلانونو او پروګرامونو د ترتيب او لارښوونې په مقصد ارقام راټول تصنيف_ تجزيه، تحليل، څپاره او په دوامداره توګه توزيع کړي.

ددولتي دوايرو او خصوصي مراجعو (چې دا حصائيوي معلوماتو او ارقامو پر ټولولو بوخت دي) د احصائيوي فعاليتونو علمي او مسلکي نظارت، څارنه او لارښوونه.

په ملي سطحه دکامپيوتري خدماتو تنظيم او تمرکز.

دحياتي احصائې د ثبت او ټولولو دميتودولوژي تثبيت اوپه ملي کچه د هغې تدريجي تعميم.

ددولت د انکشافي پلانونو په چوکاټ کې د پروژو او پروګرامونو د کار تطبيق او پرمختګ په ارتباط د ارقامو او احصائيو ټولول او دلوړو مقاماتو ته د راپورونو ترتيب او د لازمو وړانديزونو مخکې کول.

دپنځوسمې لسیزې په دوران کې له احصائیوي معلوماتو څخه په پرله پسې او سیستماتیکه توګه د پلان جوړولو او اقتصادي مالي، پولي او کریدتي سیاستونو په ترتیب د اقتصادي پروژو په ارزونه او کنترول کې استفاده کېدله او همدا ډول د تادیاتو د بیلانس، دقیمتونو دشاخصونو او نورو کلي سمتونو لکه ناخالصه ملي تولید د پانګه اچولو دحجم او پولي عرضې او د مختلفو سکتورونو په هکله منظم معلومات خپرېدل.

داحصائې دمرکزي ادارې تر ټولو ستر او نه هېرېدونکی کار د ۱۳۵۸ ل کال د بشپړې سر شمېرنې Cersus لپاره تیاری، چې په ډېره خواشینۍ سره يې په هېواد کې د امنيتي مشکلاتو له امله د تطبیق موقع ونه موندله. دا پروژه دیوه پراخ پروګرام یوه برخه وه چې زراعتي سرشمېرنه. دکورنیو دعوایدو او مصارفو سروې يې هم وکړه.

د هېواد لومړنی بشپړه سر شمېرنه له یو لړ مراحلو څخه جوړه وه چې دا مراحل د سرشمېرنې دطرحې جوړولو، دمقدماتو برابرول، دسرشمېرنې اجرا یا ساحوي عملیاتو، د ارقامو پروس او Post Enomeration sarvey څخه عبارت و، د احصائې مرکزي ادارې چې دملګروملتونو دنفوسو ادارې په تخنیکي او مالي مرستې سره د طرحې او مقدماتي مرحله چې د هېواد د احصائیوي ضرورتونو پېژندنه او همدا ډول دداخلي او خارجي منابعو، مدارکو او سوابقو مطالعه او څېړنه، دمیتودولوژي انتخاب او ټسټ، دشمېر دساحو د نقشو تهیه، دکورنیو د قبیلې لستونو ترتیب، دشمېر د ساحاتو تعین، دپوښتنلیک ترتیب، دفورمو ترتیب دمختلفو دستورالعملونو تدوین او چاپ او د ولایتي، محلي دفترونو تاسیس او د محلي او ولایتي دفاترو کارکوونکو او تر هغه وروسته د سوپروېزرانو لپاره د کورسونو جوړول او د اجرا اداره د پروش لپاره پلانګ وو، په ډېر بریالیتوب تر سره کړل.

دهېواد دلومړۍ بشړې سر شمېرنې د مقدماتي مرحلې د نتایجو پر اساس د هېواد نفوس د ۱۵ ملیونو په حدود کې تخمین شو.

دهېواد نفوس او توزيع يې د مسكون او نامسكون په تفكيك

دنفوسو كټګوري	شمېر	فيصدي
دنفوسومجموع	۱۵,۱۰۸,۰۰۰	۱۰۰
مېشته نفوس	۱۳٦۵۹۰۰۰	۹۰.۴۱
ښاري نفوس	۲۱۳٦۰۰۰	۱۴.۳۰
كليوالي نفوس	۱۱,۵۲۵۰۰۰	۷٦.۲٦
كوچيان	۱,۴۴۹,۰۰۰	۹.۵۹

دپورتنيو ارقامو پر اساس د نفوسو تراكم په هر كيلومتر مربع كې ۲۹ تنه وو، چې كابل د ۱,۳۷۳ مليونو نفوس په درلودلو سره په لومړي رديف كې او نيمروز د ۱۰۵ زرو تنو نفوس په درلودلو سره په اخر رديف كې وو، همدا ډول د ۲,۱۳۴ مليونو ښاري نفوس له جملې څخه ۷۵ فيصده يا ۱,۵۹۴ فيصده نفوس تر ۱۵ كالو لږ عمر درلود او ۵,٦ فيصده نفوس تر ٦۴ كالو زيات عمر درلود او ۴۸,٦ فيصده نفوس د ۱۵-٦۵ كلونو تر منځ عمر درلود، چې دهېواد بشري قوه يا دكار لپاره متعهد نفوس يې جوړاوه، دنارينه وو فيصدي په مجموع كې ۵۱,۳ فيصده او دښځو فيصدي ۴۸,۷ فيصده وه.

دهېواد نفوس ددې پېړۍ له پيل څخه

كلونه	دنفوسو شمېر	دنفوسو كلنۍ وده
۱۹۰۰	۴,۳۵	۵,۷فيصده
۱۹۰۵	۴,۵۳	۰,۷ //
۱۹۱۰	۴,۷۱	۰,۷ //
۱۹۱۵	۴,۹۰۲	۰,۷ //
۱۹۲۰	۵,۲٦	۱,۱ //
۱۹۲۵	۵,۹۰۲	۱,۱
۱۹۳۰	٦,۲۵٦	۱,۱
۱۹۳۵	٦,٦۲۲	۱,۱ //
۱۹۴۰	۷,۰۳۰	۱,۱ //
۱۹۵۰	۸,۵۵	۱,۳ //
۱۹۵۵	۸,٦۹۳	۲,۰۸ //
۱۹٦۰	۹,٦۵	۲,۵
۱۹٦۵	۱۰,۹۱۰	۲,۵
۱۹٦٦	۱۱,۱۷٦	۲,۵

۱۹٦۷	۱۱,۴۵۲	۲,۵٪
۱۹٦۸	۱۱,۷۳۳	۲,۵٪
۱۹٦۹	۱۲,۰۲۱	۲,۵٪
۱۹۷۰	۱۲,۳۳۱	۲,۵٪
۱۹۷۱	۱۲,٦۴۸	۲,۵۱٪
۱۹۷۲	۱۲,۹۷۳	۲,۵۱٪
۱۹۷۳	۱۳,۳۰٦	۲,۵۱٪
۱۹۷۴	۱۳,٦۸۴	۲,۵۱٪
۱۹۷۵	۱۳,۹۹۹	۲,۵۱٪
۱۹۷٦	۱۴,۳۵۹	۲,۵۱٪
۱۹۷۷	۱۴,۷۲۸	۲,۵۱
۱۹۷۸	۱۵,۱۰۸	۲,۵۱٪

دلومړۍ بشپړې سرشمېرنې د ارقامو په اساس اس. ای. براک د نړۍ د نفوسو په کتاب کې چې پر ۱۹۸۱م کال د پخواني شوروي اتحاد د علومو اکاډمۍ له خوا خپور شو د افغانستان د مختلفو قومونو شمېر په لاندې ډول څرګند کړی دی:

ټول نفوس	۱۵۱۰۸۰۰۰	۱۰۰فیصده
افغانان	۸۰۰۰۰۰۰	۵۲,۹٪
تاجک	۳,۰۰۰,۰۰۰	۱۹,۸٪
هزاره	۱,۳۰۰,۰۰۰	۸۰٦
چارایماق	۴۵۰,۰۰۰	۳
بلوڅ	۱۳۰,۰۰۰	۰,۹
نورستاني	۱۲۰,۰۰۰	۰,۸
پامیري	۱۰۰,۰۰۰	۰,۷
پارسي	۴۰۰۰۰	۰,۳
کرد	۱۰,۰۰۰	۰,۱
اورمړ	۵۰۰۰	۰.۱
پراچه	۵۰۰۰	
ازبک	۱,۲۰۰,۰۰۰	۸۰٦
ترکمن	۳۰۰,۰۰۰	۲٪
افشاراوقزلباش	۳۰۰۰۰	۰,۲٪
قرقیز	۱۰۰۰۰	۰,۱٪

قراق	۵۰۰۰	
پشه يي	۱۰۰,۰۰۰	٪۰,۷
پنجابي هندو سکهـ	۲۵۰۰۰	٪۰,۲
تيرايي	۲۰۰۰۰	٪۰,۱
بنګړي وال	۲۰۰۰۰	٪۰,۱
جټ	۱۰۰۰۰	٪۰,۱
کوشتاني	۵۰۰۰	٪
برکون	۴۰,۰۰۰	٪۰,۲
عرب	۳۰,۰۰۰	٪۰,۲
مغل	۲۰,۰۰۰	٪۰,۱
نور	۳۳,۰۰۰	٪۰,۲

ورته فيصدي پر ۱۹۹۷ کال دبريتانيکا په کلنۍ کې ليـدل کـېږي او د همدې فيصدۍ پر اساس زموږ د هـېواد نفـوس دقومونـو پـه تفکيـک پـه لاندې ډول سره درج دی:

ټول نفوس	۲۳,۴۹۷,۱٦۰

داندواربن ژبو ويونکي

پشه يي	۱۴۰,۰۰۰

ايراني (ارياني) ژبو ويونکي

بلوڅان	۲۲۰,۰۰۰
دري	
ايماق	٦۷۰۰۰۰
هزاره	۳۰۹۰۰۰۰
تاجک	۴,۸٦,۰۰۰
نورستاني	۱۸۰۰۰۰
پاميري	۱۴۰,۰۰۰
پښتو	۱۲۴۳۰۰۰۰

ترکي ژبو ويونکي

ترکمنان	۴٦۰,۰۰۰
ازبک	۲۰۹۰۰۰۰
نور	۴۵۰,۰۰۰

په ځاوندیو هېوادونو کې سر شمېرنې

له ډېرو پخوا زمانو راهیسې دولتونو د خپلو اوسېدونکو له شمېر سره علاقه درلودله. تاریخي اسناد په پخوانـي بابل، مصر، روم، هند، چین او پاریس کې دسر شمېرنو د سرته رسېدلو حکایت کوي دا سر شمېرنې یا د پوځي مقاصدو لپاره ترسره کېدلې او یا دا چې هدف به یې د دولت د عوایدو د اندازې ټاکنه وه.

په اروپا کې تر ۱۵ مې پېړۍ وروسته د ژورو اقتصادي او اجتماعي بدلونونو په رامنځته کېدو سره له سر شمېرنو خاص اهمیت پیدا کړ، جغرافیایي اکتشافاتو د سوداګرۍ طبیعي ظهور، اقتباس، مذهبي اصلاحاتو او صنعتي انقلاب په اروپا کې د اقتصادي فعالیتونو انګېزې او اهدافو ته تغیر ورکړ. اقتصادي فعالیتونه په تدریج او کرار کرار له مذهبي او اخلاقي اصولو څخه مستقل شول او د کسب او تجارت او د شتمنیو د تراکم خواته یې میلان پیدا کړ، په دې وخت کې په اروپا کې فیوډالي اقتصادي نظام مطرود وګڼل شو، ملي ناسیونالیزم پراختیا وموندله او د طلا او نقرې په بڼه دشتمنیو راغونډول او بهرني تجارت اهمیت پیدا کړ او د قوي مرکزي دولتونو تاسیس چې قوي پوځ ولري د ورځې موضوع شوه، دمرکزي پوځ او اقتصاد درلودل تر ټولو دمخه ددې ایجاب کاوه چې دننه په هېواد کې د اجتماعي او اقتصادي کلي کمیتونو او شاخصونو په هکله معلومات ترلاسه شي په دې شاخصونو کې نفوس او د هغه جغرافیایي وېش ترتیب د سن او جنس په لحاظ له خاص اهمیت درلود.

په اروپا کې سویډن لومړنی هېواد و چې نه یوازې دیوه منظم سیستم څخه په استفاده په ۱۷۴۹ کې یې سر شمېرنه CENSUS تر سره

کړه بلکې دحیاتي احصایې Vital Statistics ثبت یې هم شروع کړ، دسویډن ددې اقدام په پیروي استریا په ۱۷۵۷ کال کې او ناروې او ډنمارک په ۱۷٦۹ م کال کې سر شمېرنې وکړلې، روسانو لومړی په ۱۷۱۹ او بیا یې په ۱۸۵۷ کال کې خپل نفوس وشمېره، دوی په روسیه کې د نفوسو شمېرنه په واقعي ډول سره په ۱۸۴۷ م کال تر سره کړ.

له جاپان پرته په اسیایي هېوادونو کې یوازې هغه هېوادونه د خپل نفوس په هکله تاریخي معلومات لري چې له اروپایانو سره په نږدې تماس کې وو، دمثال په توګه هالنډیانو د نولسمې پېړۍ په شروع کې په جادا کې سرشمېرنه تر سره کړه او انګلیسانو هم دهماغې پېړۍ په پیل کې دهند د نیمې وچې دنفوسو په هکله معلومات درلودل او دا معلومات یوازې په هغو سیمو کې چې ددوی تر تسلط لاندې وو نه وومحدود شوي بلکې د هغو سیمو په هکله چې د محلي راجاګانو، نوابانو او شهزادګانو له خوا یا ددوی ترقیوداتو او یا په خپلواکه توګه اداره کېدل، ددې اداري معلومات درلودل، حتی انګلیسانو د نولسمې پېړۍ په شروع کې دهند دګاونډیو هېوادونو په هکله لکه د درانیانو د امپراطورۍ سیلون، نیپال، یونان دنفوسو په هکله هم اټکلونه درلودل او دا اټکلونه په ډېر دقت سره تر سره شوي وو.

Martine په ۱۸۳۸ کال کې په درې ټوکو ۲۳۰۰۰ مخونو کې دختیز هند په هکله یو مفصل راپور ترتیب کړ او د هند د نیمې وچې د نفوسو ددوی د مذهبي عقایدو، ژبو، سنودي او رواتي سیستم، اقتصادي نظام په هکله یې معلومات برابر کړل، په همدې توګه Himiltion په ۱۸۱۵ م کال کې د هندGAZETTER ترتیب کړ او په ۱۸۵۷ کال کې E.Balfor په مدارس کې Cyclopedia at خپره کړه، جالبه داده چې ددې انګلیسي منابعو او خېړونکو اټکلونه تر ډېره حده یقیني دي، دمثال په توګه Baifac د هند نفوس دهند تر لومړنۍ سر شمېرنې یوازې لږه موده د

مخه ۲۱۲ مليونه اټکل کړي وو، چې د ۱۸۷۲م کال د سر شمېرنې له نتيجې سره يې زيات توپير نه درلود او عجيبه لا داده چې د ۱۸۸۱ م او ۱۸۹۱ م کال سر شمېرنو وښودله چې د ۱۸۷۱ م کال په سر شمېرنو کې UNDER COUNT لږه شمېرنه شوې ده که چېرته د ۱۸۷۱ م کال سر شمېرنې د ۱۸۷۲ م کال د سر شمېرنو پر اساس په برتانوي هند کې ۱۹۱۰۹۶۶۰۳ تنو ژوند کاوه او همدا ډول د برتانوي هند د تسلط خخه بهر ددوی دقيموميت لاندې سيمو کې ۴۹۱۵۵۷۴۶ تنو ژوند کاوه چې په مجموعې توګه د ټول هند نفوس ۲۴۰۰۰۰۰۰ مليونو تنو په شاوخوا کې وو.

دهندي مقاماتو دليکنې پر اساس دا رقم د هغه خلکو د تعداد دوه چنده وو چې د ګيبن Gibben د اټکل پر اساس د روم د امپراطورۍ په معراج Height کې په هغه امپراطورۍ کې اوسېدل، دا سر شمېرنه په عمده ډول دمحلي مامورينونو، امنيتي مقاماتو او محلاتو د مشرانو په مرسته تر سره شوه او ددوی تر څنګ په ځينو سيمو کې تنخوا خواره سر شمېرونکي هم استخدام شول، ددې سر شمېرنې مصارف ۸۲۲۰۳ سرلنګ پونډه وو، په دې سر شمېرنه کې د هند د نفوس په هکله معلومات دسيمو او مذاهبو او قومي ګروپونو په تفريق تر لاسه شول، د مذاهبو پر اساس:

هندوان	۱۳۹	مليونه	۷۵	فيصده
مسلمانان	۴۰	//	۲۱,۴۵	//
بودائيان	۲,۸	//	۱,۴۰	//
عيسويان	۰,۸۹۷	//	۰,۴۹	//
سکهان	۱,۷	//	۰,۶۲	//

په اتنيکي لحاظ د نفوسو جوړښت په لاندې توګه وو:

هندوان:

برهمنان	۱۵٫۶	مليونه
راجپوتان	۵٫۶	//
مسلمانان		
مغل	۰٫۲۱۹	//
افغانان	۱٫۸۴	//
سيدان	۰٫۷۹	//
شيخان	۴٫۷	//
بهرنيان		
پارسيان	۶۹۰۰۰	تنه (زردتشتيان)
نيپاليان	۳۱۰۰۰	//
عرب	۸۳۰۰۰	//
فارسيان	۳۵۰۰۰	//
ارمنيان	۱۵۰۰	//
يهود	۷۶۰۰	//

عجيبه داده چې دا عظيم الشانه هند يوازې د ۷۵۷۰۰ تنو انګرېزانو له خوا اداره کېده، چې کيدی شي ټول په يوه ستديوم کې ځای پر ځای شوي وای.

اوس به راشو وبه ګورو چې زموږ په شمالي ګاونډيو قومونو کې حقيقت څنګه و، هغه سيمې چې نن د منځنۍ اسيا د جمهوريتونو په نامه مسمی دي تر ټولو نږدې تاريخي نوم يې ترکستان دی. دا نوم په ټوله دې سيمه کې د لومړي ځل لپاره دهند د چغتايي مغولو دسلسلې د باني او موسس ظهيرالدين بابر(۱۵۳۰-۱۴۸۳) له خوا په کار وړل شوی دی، دا سيمې تقريباً تر يوې پېړۍ څخه زيات د تزاري او بيا د بلشيويکي روسيې تر تسلط لاندې وې، که څه هم د ترکستان د نفوسو زياته برخه په ۱۸۹۷م کال کې وشمېرل شوې (د روسيې لومړنی بشپړه

په زړه پورې او ارزښتناکې څرګندونې وکړې او دا څرګندونې بـه مخصوصاً په دې لحاظ هم ډېرې په زړه پورې او خونـدورې وې، چې زموږ د هېواد د ژوندانه مختلف اړخونه بـه پـه کـې څېړل شـوي وي. دې سیمینار ته ما هم د یوه برخوال په توګه کوښښ کړی دی، چـې د شلمې پېړۍ پـه دوران کـې د افغانسـتان د نفـوس د شـمېرو پـه هکلـه واقعیت ته نژدې یو اټکل وړاندې کړم او حتمـاً هغـو اټکلونـو تـه هـم اشاره وکړم چې د همدې پېړۍ په دوران کې د مختلفو منابعو لـه خـوا زموږ د هېواد د نفوسو د اندازې په هکله وړاندې شوي دي.

زه د خپلې لیکنې پر نیمګړتیاوو کاملاً پوه یم، تر ټولو دمخه دا چـې زه د هغو اټکلونو د متودولوژیو په هکله چې مخصوصاً د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې ترسره شوي دي، معلومات په لاس کې نه لـرم او د مهاجرت په ژوند کې د داسې معلوماتو ترلاسه کول هـم اسـانه کـار نـه دی. له بلې خوا زما د لیکنې ستره نیمګړتیا دا ده چې هغه مې په پښتـو ژبه لیکلې ده او په دې ډېره خواشینی سره باید ووایم چې ما په خپلـه ملي ژبه پښتو لیکل ډېر وروسته پیل کړل او په همدې لحـاظ اوس هـم کله چې غواړم په پښتـو ژبـه یـو مطلـب ولیکـم، ډېر مشکلات لـرم. ما غوښتل چې د کار د اسانتیا لپاره دا مقالـه پـه پارسـي ژبـه ولیکـم، خـو وروسته متوجه شوم چې په دې توګه به زمـا سرنوشـت هـم هغـوی تـه ورته وي، چې:

لاسونه یې لنډ وو، او خرما ته نه رسېدل
له ناچارۍ یې خپل لاسونه پرې کړل او د خرما
خواته یې ګوزار کړل خرما په خروار تویه شوه
ولې حیف چې دوی نور لاسونه نه درلودل.

سر شمېرنه) ولې ددې سيمې وکړي په بشپړه توګه په ۱۹۲٦ کال کې شمېرل شوي دي. د ۱۸۹۷م کال د سر شمېرنې پر اساس په تزاري روسيه کې ۱۰،۸۲ مليونه ترکان او ۶۲۰۰۰۰ تنه د ايراني ژبو ويونکو ژوند کاوه، ولې د ۱۹۲٦ کال د سر شمېرنې نتايج زيات اعتبار لري. ځکه (۱) په دې سر شمېرنه کې د شمېرنې ميتودونه اصلاح شوي وو، (۲) د روسانو تسلط پر ټولو سيمو کلک شوی و، په دې لحاظ سر شميرنې ټولې سيمې احتوا کړې وې. (۳) او بالاخره په دې کال کې دباسمچي قيام چې په ۱۹۱۸ م کال کې شروع شوی وپای ته رسېدلی و او افغانستان ته د ترکانو او تاجکو مهاجرتونه قطع شوي وو.

ددې سرشمېرنې د نتايجو پر اساس د شلمې پېړۍ په لومړۍ ربع کې دمنځنۍ اسيا د موجوده قومونو شمېر په لاندې توګه وو:

۱. دمنځني اسيا ترکان	۹،۷۴۷،۱۶۲
قزاقان	۳۹۷۰۰۰۰
ازبکان	۳۹۰۴۶۲۲
قرغيزان	۷۶۲۷۳۶
ترکمنان	۷۶۳۹۴۰
قباچان	۳۳۵۰۲
يوګوران	۴۲۵۵۰
۲. دمنځني اسيا ايراني ژبي قومونه	۹۸۰۵۰۹
تاجکان	۹۷۸۶۸۰
پاميري قومونه	۱۹۲۹

له دې جملې څخه ۲،۲ فيصده قزاقان، ۱۸،۷ فيصده ازبکان، ۱،۴ فيصده قرغيزان.۱.۵ فيصده ترکمنان او ۱۵،۲ فيصده تاجکان په ښارونو کې اوسېدل.

که په برتانوي هند او منځني اسیا کې سر شــمېرنې تریـوې پـېړۍ زیات سابقه لري. زموږ په ختیز ګاونـډي هـېواد کـې یـوازې د همـدې پېړۍ په دویمه نیمایي ۱۹۵٦ کال کې لومړنۍ بشپړه سر شـمېرنه Census ترسره شوه. دمخه تر دې دلومـړي ځل لپـاره پـه ۱۸۱۸ م کـال کـې د نفوسو یو تخمین ترسره شوی و چې د هغه پر اساس د ایران مجموعـي نفوس ۷،٦۵۳،٦۰۰ تنه تخمین شوی و، چـې لـه دې جملـې څخـه ۱،۹ ملیونه په ښارونو کې ۱،۹ ملیونه د عشایرو په تـوګه او ۳،۷۸ ملیونـه پـه کلیو کې اوســېدل، د ایـران د نفوسـو پـه هکلـه ددې مطلـب یادونـه ضروري ده چې په ایران کې د ۱۹ پېړۍ په وروستیو کلونو کــې دښاري نفوس فیصدي په مجموعي نفوس کې تر هنــد، ترکسـتان او افغانسـتان لوړه ده. دا فیصدي په هند او افغانستان کې د ۳ فیصدو په شاوخوا کې وه په داسې حال کې چې د ایران د نفوسو تر ۲۰فیصده څخه زیات پـه ښارونو کې اوسېدل. د ایران په ښارونو کې لومړی مقام ترکي ژبـي ښار تبریز د ۱۳۰۰۰۰ تنو نفوس په درلودلو سره خپل کړی و.

تر دې وروسته تهران د ۱۰۰،۰۰۰تنو نفوس په درلودلـو سـره دویم مقام او اصفهان د ٦۰۰۰۰ تنو نفوس په درلودلو سرَه دریم مقام درلـوده. د شلمې پېړۍ په شـروع کـې د ایـران ښاري سیمو نـوره هـم پراختیـا وموندله او د ایران ۲۵ فیصده نفوس په ښارونو کې متمرکز شو او تـهران د ۳،۵۰،۰۰۰ تنو نفوس په درلودلو سره لومړی مقام ترلاسه کـړ. تـر دې وروسته تـبریز د ۳۰۰،۰۰۰ تنـو نفـوس پـه درلودلـو سـره لومـړی مقام درلوده.

د ۱۹ پېړۍ په وروستیو کلونو کې ځینو اروپـایي منـابعو د ایـران د نفوس په هکله اټکلونه وړاندې کړي دي چې په دې توګه دي:

(جدول) د ایران نفوس دنولسمې پېړۍ په پای او د شــلمې پـېړۍ په شروع کې

دنفوس ګروپونه	۱۸۸۴	۱۸۸۸	۱۸۹۱	۱۹۰۹
	شنایدر	زولوتو	کورزون	مدوید
مسکون	۵,۷	۴,۵	۶,۷	۷,۵
ښاري	۱,۹	۱,۵	۲,۲	۲,۵
کلیوالي	۳,۸	۳,۰۰	۴,۵	۵,۰
کوچیان	۱,۹	۱,۵	۲,۲۵	۲,۵
ټول نفوس	۷,۶	۶,۰۰	۹,۰۰	۱۰,۰۰

په ایران کې لومړۍ بشپړه سرشمېرنه ډېره وروسته په ۱۹۵٦م کــال کې تر سره شوه، چې ددې سر شمېرنې په نتیجه کې د ایـران نفـوس د ۱۸,۹۵۴,۰۰۰ تنه وشمېرل شو.

دویمه ضمیمه:

په دې برخه کې زه غواړم پر دې موضوع وغږېږم چې کـه چېرتـه په یوه مملکت کې سر شــمېرنه او یـا دنفـوس د شـمېر دمعلوملـو لپـاره پرعلمي اساساتو بنا د نفوس ســروې نـه وي ترسـره شـوی او د حیـاتي احصایي دثبت سیستم هم موجود نهٔ وي ایا بیا هم د نفوسو واقعیت تـه نږدې د یوه اټکل لپاره لارې چارې شته او که نه؟

د مخه تر دې چې ددې سوال ځواب چې معلومـاتي جنبـه لـري وړاندې شي. دلته لازمه ده چې د تاریخ په اوږدو کې هغو مشکلاتو تـه اشاره وشي چې په ځانګړي توګه زموږ د هېواد د نفوسو پـه تخمـین او اټکل کې ورسره مخامخ یو:

دا مشکلات په لاندې ډول دي:

الف- تاریخي افغانستان د مصر، جاپان او چین په شان پــه دقیـقه توګه تعین شوې پوړۍ نه لري، نننی افغانستان په لرغوني زمانــه کــې د اریاAria باکتریا Bactria درنګیــاDrangia اراکوزیـا Arachosia او ګندهـارا اوپه اسلامي دوره کې د سیستان، خراسان، غرقښتان، زابلســتان. کـابل

.... مرکب و. چې ددې سيمو حدود په تاريخي لحاظ مد او جذر لري او حتى اکثره په ډېرو معتبرو تاريخي ميتودونو کې هم دا حدود په څرګند ډول نه دي معرفي شوي.

ب ـ هغه سيمې چې ننني افغانستان جوړوي په تاريخي لحاظ هلته تل د نفوسو ټولنيز او کتلوي حرکتونه Massive Mavmd موجود وو، افغانستان د خپل تاريخ په اوږدو کې تل د مختلفو اقوامو د تګ او راتګ د تقاطع نقطه وه، په اقتصادي لحاظ د مخه تر دې چې د BIUEWATER NEVAGATION تکنالوژي پراختيا وموميي افغانستان د لويديځ او ختيځ د تجارتي لويې لارې عمده اقتصادي کړۍ وه.

همدې لارې افغانستان ته ديونانيانو ارت اوپوځ، هندي بوديزم، مغول يرغلګر، عربو په واسطه اسلام ، د ترکانو پوځي تشکيلات او فارسي ژبه او فارسي شوي بيزانتينيByzantine بيروکراسي راوستله.

له ماوراء النهر څخه د تاريخ په اوږدو کې مختلف قومونه د افغانستان خواته راغلي دي. د مثال په توګه له ميلاد څخه د مخه ساکان او پارتان او د ميلاد په شروع کې يوچي قبيله چې له تخاريانو (تاهيانو) سره د اختلاط په نتيجه کې په کوشانيانو مشهوره شوه او د پنځمې ميلادي پېړۍ په شروع کې هسپانيان له امو سيند څخه راپورې وتله او د کابل کندهار او زابل په سيمو کې مېشته شوه، ددې مهاجرتونو لړۍ د عربو، ترکانو، مغلو او پارسيانو په راتګ سره افغانستان ته او له افغانستان څخه هند ته د يوسف زيو، لوديانو، غلجاپانو بنګښو، مروتو په تګ سره ادامه پيدا کړه، چې دداسې مهاجرتونو مثالونه مونږ په همدې پېړۍ کې هم لرو، په داسې حال کې چې دنفوسو دا ډول جمعي خوځښتونه. په دې پيمانه په نورو تمدنونو کې نه ليدل کېږي، په دې لحاظ په لرغونو زمانو کې زموږ د هېواد د نفوسو په هکله د معلوماتو وړاندې کول د جاپان، چين او مصر په شان اسانه کار نه دی.

ج ـ که د هند، چین، مصر او فارس تاریخ وکتل شي، دا به په ډاګه شي چې بهرني یرغلونه او یا ددې تمدنونو دننه د سلسلو تغیر دوی پر ټولنیز ژوند باندې ژور اثرات پرځای نه دي پرې ایښي، دې پېښو په دې تمدنونو کې، یوازې د قدرت د اهرم په راس کې تغیرات راوستلي دي، په داسې حال کې چې ددوی بېروکراسي، پوځي تشکیلات، دولتي دفاتر پر خپل ځای پاتې شوي دي او دوی مرکزي اداري د پخوا په شان دوام موندلی دی، د مثال په توګه دمصر هېواد. له میلاد څخه د دوو زرو کلونو راپه دېخوا دخپل نفوس بشري قواوو. پوځي طاقت او د کرنې دځمکود اندازې او دمالیاتي عوایدو په هکله ثبت شوي معلومات لري، خو زموږ په هېواد کې د ورته تاریخي پېښو اثرات پر اقتصادي، اجتماعي او کلتوري ژوند باندې ډېر ژور وو. دلته حتی د سلسلو Dynesties تغیر هم یو عالم مصائب او بدمرغۍ له ځانه سره راوړې دی، د نویو سلسلو موسسینو یوازې دقدرت پر تصرف اکتفا نه ده کړې بلکې خلک یې بې ځایه کړي دي، د پخوانیو سلسلې او حتی د پاچاهانو ملاتړ کوونکي یې وژلي دي، یانې تبعید کړي دي او د پخوانۍ سلسلې ټول ملموس اثار یې معمولاً له منځه وړي دي، ددوی دفاتر او اسناد یې معدوم کړي دي، په دې برخه کې د سلطان علاوالدین په لاس د غزنې سوځېدل او دګوډ تیمور په واسطه د سیستان د مرکز بست لوټول، بیا ورانول او بیا د هغه سوځول ډېر ښه مثالونه دي.

د- د تاریخ په شهادت په افغانستان کې یوازې هغو دولتونو دوام موندلی دی چې ملي صبغه یې درلوده. پاتې له ټولو هغو دولتونو سره خلکو خپل مخالفت په پراخه پیمانه څرګند کړی دی، چې دپردو له خوا جوړ شوي دي، په افغانستان کې د ملي دولتونو د نشتوالي په صورت کې اویا د بهرنیو د تسلط په دوران کې دوی دانبه ګڼلې ده

چې خپله ازادي خوندي وساتي، د غور او سليمان غرونه مخصوصاً په داسې اضطراري حالاتو کې ددوی ډېر ښه پناه ځای و. " افغانانو حتی د چنګېز د اولادې او د تيمور او د هغه د اولادې د حکومت په وخت کې هم خپله ازادي ساتلې وه" په دې توګه " ددوی ازادي چې دوی له شرقي ملتونو څخه په زياته پيمانه بېلوي او ددوی د مېړانې صفتونه چې دوی له خپلو ګاونډيانو هسکوي" ددې باعث ګرځېدلي دي چې په سيمه کې د مرکزي دولتونو د استحکام په صورت کې هم ددوی د ټولنيز ژوند په برخه کې تغيرات رامنځته نه شي.

دا موضوع د هند او يا پر شيا په هکله بل ډول وه، په دې هېوادونو کې له دولتونو څخه اصلي توقع دا وه چې د اتباعو د کار او ژوند لپاره امنيت تامين او د پردو دحملاتو په مقابل کې ددوی دفاع وکړي، څکه په دې هېوادونو کې له وطن څخه دفاع د دولتونو دنده شمېرل کېده، په همدې دليل ددې هېوادونو په تاريخ کې عربو، مغولو، ترکو، افغانانو، انګرېزانو له پېړيو پېړيو راهيسې حکومتونه کړي دي، پرته له دې چې ددې حکومتونو په مقابل کې خلکو حساسيت څرګند کړی دی، په نتيجه کې دوی دخپل تاريخ په زياته برخه کې نظم، اداره او امنيت درلود. ددوی ښارونه په نفوسو ډک و او کروندې يې تل شنې وې او ارتباطي لارې يې مصئونه وې.

ددې لنډيز تر وړاندې کولو وروسته راځو د خپلې مطروحه پوښتنې ځواب ته: دديموګرافي دعلم ماهرين د سرشمېرنو، سروې ګانو او حياتي احصايې دثبت د نشتوالي په صورت کې هم له يو لړ ميتودونو څخه په استفاده، په دې قادر دي چې په دې برخه کې يو لړ اټکلونه وړاندې کړي، دا اټکلونه يا پر ليکلي منابعو استوار دي او يا په ناليکليو منابعو چې عمده مثالونه يې په لاندې ډول دي:

۱. پر مالي، پوځي او اداري تشکیلاتو د اسنادو پر اساس د تخمین وړاندې کول.

۲. د بهرنیو سیلانیانو، سیاسي استازیو، زایرانو، دپلماتیک هیئات د غړو، دسوداګرو او پوځي او سیاسي شخصیتونو د سترګو لیدلي حالاتو او یا ترتیب شوي راپوروونو پر اساس د تخمین وړاندې کول.

۳. د ښارونو نقشې.

۴. د ښارونو تصویرونه.

۵. د زراعتي ځمکو اندازه، د اوبو لګولو تاسیسات او شبکې او د اقتصادي فعالیتونو حجم پر اساس د تخمین وړاندې کول.

٦. د پخوانیو ښارونو، کلیو د ودانیو پر اساس اټکل.

۷. او بالاخره د Skeleton اوSkoll پر اساس د اټکل وړاندې کول، مثلاً د بغداد نفوس په ۹۳۲م کال کې، د ښار مساحت، د عمومي حمامونو د شمېر او د حکیمانو (طبیبانو) د تعداد پر اساس وټاکل شو. همدا ډول ددیموګرافۍ ماهرینو د پوځي طاقت پر بنا د مغولي امپراطورۍ تر تسلط لاندې سیمو نفوس اټکل کړی و او د مساحت، موسساتي فکتورونو د محلي فعالیتونو د حجم او د مقایسوي ارقامو له لارې په لرغوني زمانو او په منځنیو پېړیو کې دفلورانس، روم، میلان، مادریه، هاګ پاریس، استروم نفوس تخمین کړی دی.

په دې برخه یو کلاسیک مثال د مصر د نفوسو په مقایسه د ایران د نفوسو اټکل و، ځکه چې مصر له پخوا زمانو راهیسې د نفوسو په هکله لومړني ارقام Primary data درلودل او په دې هیواد کې لومړۍ بشپړه سر شمېرنه هم په ۱۸۴۸م کال کې ترسره شوه.

څرنګه چې د ایران او د مصر مساحت، ابادو ځمکیو، د اوبو لګولو تاسیساتو او د شبکو پراختیا او د اقتصادي فعالیتونو حجم ورته والی درلوده، په دې اساس د ایران نفوس د مصر د نفوس په اندازه اټکل

کېده او دا اټکل معمولاً واقعیت ته تر ټولو نږدې اټکل په توګه شـمېرل کېده او جالبه هم داده چـې د ایـران د لومـړۍ بشـپړې سـر شـمېرنې نتایجو چې په ۱۹۵٦ کال کې تر سره شوه وښودله چې دا میتود تر ډېره حده مروج هم و. څکه د شمېرنې د نتایجو دځیرېدلو وروسته دا معلومه شوه، چې ددې دواړو هېوادونو د نفوسو تر منځ د یـو نیـم ملیونـو پـه حدودو کې تفاوت موجود و، له همدې میتود څخه په استفـــادهColin me Evedy او Rkhard jones د Aflas of world pepolation histor لیکونکـي دا نظریه راوړاندې کوي چې د سرشمېرنو او یا نورو لومړنیو ارقـامو پـه نشتوالي کې د افغانستان د نفوسو لپاره تر ټولو ښه تخمین دادی چـې د افغانستان نفوس د ایران د نفوس په نیمایي اټکل شي. څکه افغانستان د ایران نیمایي زراعتي ځمکې لري او د ایران او افغانســتان د اقتصـادي فعالیتونو او د معیشیت په طرز کې هم د شلمې پېړۍ په شروع کې زیات تفاوت موجود نه و.

زموږ د هېواد د اقتصاد، کلتور او حتی د نفوسو دشمېرپه برخه کې د هورنګ تسانګ چینایي زایر، البیروني، ابن بطوطه، تونسـي سـیلاني، بابر، الفنستون او کرزون لیکنې او یادښتونه خـاص اهمیـت لـري، زه د لته د هورنګ تسانګ دلیکنو پر اساس غـواړم د بلـخ د نفوسـو د اټکـل میتود ګرانو لوستونکو ته معرفي کړم.

هورنګ تسانګ د بلخ په هکله داسې لیکي:

" This country is a Bovt boo li from east to west and yoo li from north to south. On the nourt if border on the oxus. The capital is aboot zo li in cir euit. It is called generally little Rajaqriha. The city, thooqh well(stvongly) fortified, is thinly populated"

دهورنګ تسانګ له لیکنې څخه څرګندېږي چې:

بلخ د نفوسو په لحاظ متکاثف نه و، یانې په دې ښار کې ګنه ګونه نه وه او د استوګنې محلات یو له بل څخه لرې پراته وو.

ښار په قوي احتمال سره دايـروي شـکل درلـوده، څکـه کـه ښار مستطيل او يا مربع شکل درلودلای، څرنـګه چـې دا هندسـي اشـکال چينايانو ته پېژندل شوي وو، په دې لحـاظ ممکـن هغـه د اضلاعـو پـه هکله هم معلومات ورکړي وای او دا کار ده ته اسانه هم و.

بلخ يا بخدي يا بختو يوه سيمه وه، يوه پراخه او ارته سيمه او هغه ښار چې ددې سيند پر غاړه جوړ شوی و، د Rajagriha پـه نامـه يـادېده اوس ددې ليکنو په اسناد کولای شو، ددې ښار نفوس تخمين کړو.

بايد Li په km يا مايل تبديل کړو، څکه موږ سره د پخوانيو ښارونـو د نفوسو د تراکم په هکله په Li نوامونو نه شته، په دې توګه Li 20 د ۷ مايلو او يا ۱۵ کيلومترو سره معادل دی.

اوس بايد د ښار مساحت معلوم کړو.

A = R r2
= 3.1x2.56=7.9=8km2

۸ کيلومتره مربع سيمه له ۸۰۰۰ هکتارونو سره معادله ده.

اوس بايد وګورو چې په هغو دورو کـې پـه ښارونـو کـې د نفوسـو تراکم څومره و؟

الف ـ په اروپايي ښارونو، چين او هند کـې د ۲۰۰ـ ۱۰۰ تنـو پـه اندازه په يو کيلو مربع کې.

ب ـ په منځنۍ اسيا، شمالي افريقا او منځني ختيز کـې د ۷۵ ـ ۵۰ تنو په اندازه په يوه کيلومتر مربع کې.

څرنګه چې د هورنګ سانګ، له قوله نفوس په بلخ کې پـه متراکم ډول نه اوسېده ياني د بلخ د نفوسو تراکم د هندي ښارونو پـه مقايسـه چې هوانګ تسانګ ليدلي وو، لږ و او په دې لحاظ موږ يو وسـطی حـد انتخابوو، ۶۰ تنـه اوس ۴۸۰۰=۶۰×۸۰۰۰ يـا پـه تقريبـي ډول د ۵۰۰۰۰-۴۰۰۰۰ زرو تنو تر منځ، اوس موږ پـه خواشينۍ سره د بلـخ د هماغـه

وخت د نفوس په هکله معلومات په لاس کې نه لرو چې خپل سنجول شوی عدد ورسره مقایسه کړو، ولې 3000years of urban arawen کتاب چې د chandler له خوا په ۱۹۴۷ کال کې د امریکن پرسن له خوا خپور شوی دی. د اسلام په شروع کې یې ددې ښار نفوس ۳۰۰۰۰ تنه ښودلی دی، چې په طبیعي توګه دا رقم د هورنګ تسانګ د زماني په مقایسه لږ دی، چې د نفوسو کموالی هم پرته له هیڅ ډول شک او تردید څخه په دې دلیل دی، چې بلخ نور خپل مذهبي اهمیت له لاسه ورکړی و.

د مساحت تر ځنګ یو بل ډېر معمول میتود د پوځي طاقت پر اساس د نفوسو ټاکنه وه، چې دلته به د همدې میتود پر اساس د اپریدو د نفوسو وټاکو. په اسلامیک دایرت المعارف کې د اپریدو په هکله داسې لیکل شوی دی:

"the name of powerfol and large pathan tribe, with an estimate fiqlating shrenght of 50000"

دمخه تر دې چې موږ خپل تخمین ترسره کړو، لازمه ده چې خپل محاسبات پر یولړ فرضیو بنا کړو:

ښځې په پوځي طاقت کې په رسمي او موثره توګه شاملې نه دي، یانې په دې مفهوم چې نارینه هم عملاً د جګړې په میدان جنګېږي او هم د جګړې د میدان کمکي خدمتونه چې زموږ په هیواد کې د لوژستیکي یا اکمالاتي یا د جبهې د شا خدمتونو په نامه یادېږي ترسره کوي او ښځې دقیقاً د نارینه دشمېر په اندازه یا د ټول نفوس نیمایي فرض کېږي.

د ۱۴-۱۵ کلونو پورې خلک عملاً په دې کټګورۍ کې داخلېږي یانې ددوی سني ګروپ نفوس د وسلې د عمل قدرت لري.

۱۵-۴۹ کلونو ترمنځ نفوس د ټول نفوس ۴۰ فیصده جوړوي.

شلمه پېړۍ او نفوس:

که شلمه پېړۍ د نفوسو د علم Demigraphy له اړخه وڅېړل شي، لومړی مطلب چې باید عنوان شي، هغه دا دی چې په شلمه پېړۍ کې د نولسمې پېړۍ په مقایسه د ځمکې پرمخ نفوس ډېر شوی دی. خو مطلب پر همدې ځای نه ختمېږي، که فرضاً له بهرنۍ فضا څخه یو کتونکي پر ۱۵۰۰م کال زموږ سیاره لیدلای وای او بیا یې دا عمل په ۱٦۰۰م کال کې تکرار کړی وای، ممکن د ځمکې پرمخ د نفوسو د شمېر تفاوت د ده توجه ځان ته نه وای اړولی. ځکه چې د ځمکې پر مخ د نفوسو شمېر یوازې له ٤٦۱ څخه ۵۷۸ ملیونو ته یانې ۲۵ فیصده تغیر موندلی و. حتی که دا عمل یو ځل پر ۱۸۰۰م کال او بیا پر ۱۹۰۰م کال تکرار شوی وای، بیا هم دا تغیر ډېر محسوس نه و، ځکه بیا هم د نفوسو شمېر د سلو کلونو په دوران کې له ۱۲٤۱ ملیونو ۱٦۳٤ملیونو ته یانې ۳۱ فیصده تغیر موندلی و، خو که زموږ دا خیالي سیاره پر ۱۹۰۰م کال او بیا یې سږکال لیدلې وای، یقیناً چې هغه به ډېر محسوس تغیر ته متوجه شوی وای، ځکه چې د دې سلو کلونو په دوران کې د ځمکې پر مخ نفوس تقریباً څلورچنده شوی دی*

د ځمکې پر مخ نفوس د سلګونو زرو کلونو تر تېرېدو وروسته پر ۱۸۲۰م کال یو ملیارد تنو ته ورسېده او د نولسمې پېړۍ په پای کې د

* له ۱۰۰۰م کال څخه را په دې خوا د ځمکې د نفوسو د شمېر په هکله د دې علم د نظر خاوندانو ترمنځ د نظر یووالی Agreement شته. د ساري په توګه پر ۱۰۰۰م کال د تخمین پر اساس ۲۷۵ ملیونه د Clerk د اټکل پر اساس ۲۸۰ ملیونه او د Mc Evedy – Janes د اټکل پراساس ۲۷۰ملیونه اوسېدل. همدغو درېیو نفوسپوهانو د نړۍ نفوس د ۱۲۵۰م کال لپاره په ترتیب ۳٦۹، ۳۸۵، او ۳۷۵ ملیونه تنه اټکل کړي دي او بیا هم د ۱۵۰۰م کال لپاره د دوی اټکلونه په ترتیب سره ٤٤٦، ٤۲۷ او ٤۱۵ ملیونه تنه دي، همدا ډول د شلمې پېړۍ د شروع لپاره نفوس د ۱۵۵۵ او ۱٦٦۸ ملیونو ترمنځ اټکلونه شته. چې تر ټولو لوړ تخمین د Clerk له خوا او تر ټولو ټیټ تخمین د Bennett له خوا وړاندې شوی دی. د دې مطلب یادونه به هم له دلچسپۍ څخه خالي نه وي، چې د نړۍ د نفوسو په هکله لومړنی تخمین پر ۱٦٦۱م کال د FR.Ricco له خوا وړاندې شو

$$نفوس = ۵۰۰۰۰ \times \frac{۱ \times ۲}{۰.٤}$$

$$= ۵۰۰۰۰ \times \frac{۲}{۰,٤}$$

$$= ۵۰۰۰۰ \times ۵ = ۲۵۰,۰۰۰$$

په دې توګه ویلای شو چې د اپریدو نفوس د ۲۵۰,۰۰۰ تنو په شاوخوا کې و او همدا رقم د Flether په قلم Afghanistan Hilh way of Conqvest هم ثبت شوی دی، د یادولو وړ خبره داده چې ددې میتود څخه د نفوسو د اټکل ځینې کلاسیک مثالونه هم شته چې له هغې جملې څخه مورډ morland له خوا دجلال الدین اکبر په زمانه کې ددکن د نفوسو د تخمین نوم اخیستلای شو، زه دا برخه پر همدې ځای پای ته رسوم او د بحث د اوږدوالي د مخنیوي په منظور د نورو مثالونو له راوړلو څخه ډډه کوم.

تر ۱۹۸۰ م کال وروسته د افغانستان د نفوسو دشمېر په هکله د هر ډول تخمین وړاندې کول د لاندنیو دلایلو پراساس عملي نه دي:

د جګړې د تلفاتو واقعي اندازه نه ده څرګنده:

که څه هم د جګړې ددیموکراتیکو عواقبو د څېړلو لپاره تر ننه پورې یو لړ څېړنې ترسره شوي دي، خو ددې څېړنو د اعتبار او موثق والي په هکله ملاحظې شته، د مثال په توګه په دې برخه کې تر ټولو "مهمه" سروې د ۱۹۸۷ کال د اګست او د سامبر د میاشتو ترمنځ، په پاکستان کې د افغاني مهاجرو په کمپونو کې ترسره شوه، چې ددې سروې نتایج marek Siwinsky له خوا تحلیل او ریپورټ یې خپور شو. ددې سروې پر اساس د نارینه و د مړینې Rate یا نرخ ۱۳,۴ او د ښځو د مړینې نرخ ۳.۸ فیصده و، چې دمجموعي نفوس لپاره دا نرخ ۹ فیصده و. نوموړی په دې عقیده و چې د افغانستان په لس کلنه جګړه کې یانې

د ۱۹۸۷-۱۹۷۸ کلونو ترمنځ د ۱,۵-۱ مليونو تنو په شـاوخوا کې خلک وژل شوي دي. اوس که د سلوفيکي خپرو شويو ارقامو ته ځير شـو، پـه واضح توګه په کې تناقصات ليدلی شـو. د مثـال پـه تـوګه: نومـوړی د ۱۹۸۷-۱۹۸۴ کلونو ترمنځ د پوځي نښتو په هکله ارقام وړانـدې کـوي، په دې ارقـامو کې د مثـال پـه تـوګه د ۱۹۸۷ کـال پـه دوران کې د مجاهدينو او دولت ترمنځ مجموعاً ۴۴۵۰ نښتې شوي دي او يـا دا چې دولتي پوځي عمليات ترسره شوي دي، چې له دې جملې څخـه ۳۲۸۵ عمليات يا نښتې چې د مجموعي نښتـو ۷۵ فيصـده کېږي. د کـابل پـه شاوخوا سيمو او پـه کونړ، ننګرهـار، پکتيـا، پکتيکـا، کندهـار، زابـل او هلمند کې پيښې شوي دي.

دا تيوري د ۸۴م ۸۵م او ۸٦ کلونو لپاره هم په همدې توګه ده، په مقابل کې د هغو نښتو شمېر چې په بدخشـان، تخـار، کـندز، جوزجـان، فارياب کې پېښې شوي دي، د مجموعي نښتو يوازې ۲۰ فيصده وې، په شمالي ولايتونو کې زياتره نښتې په کندز، بغلان کې پېښې شـوي دي او زموږ هېواد ته دا څرګنده ده، چې د جوزجـان ولايـت د مقـاومت پـه ټول دوران له دې خونړيو پېښو حوادثو څخه ګوښه و، خو نـه پوهېږم چې م، سلوفيکي د کومې منبعې په حواله هلتـه د تلفـاتو فيصـدي پـه مجموعي نفوس کې ۱۰,۸ اوپـه ننګرهـارکې چـې هـره ورځ هلتـه پـه پراخه پيمانه د نښتو راپورونـه خپـرېدل ۴ فيصـده ليکـي او يـا دا چـې نوموړی په مرکزي ولاياتو کې چې کاپيسا هم په کې شامل دی، د نښتو مجموعي شمېر يوازې ۱,۵ يا ۲ فيصده د مجموعي نښتو شـمېر ليکـي او په مقابل کې، په کاپيسا کې د تلفاتو فيصدي پـه مجموعـي نفـوس کـې ۱۵,۸ فيصده ليکي او جالبه هم داده چې ده ته کـاپيسـا يـانې پنجشـېر څکه د کاپيسا د نوم مخکې په قوس کې پنجشېر ليکي او دی په دې نـه پوهېږي چې پنجشېر د کاپيسا يوه ولسوالي ده او له بلې خـوا د کونـړ د

ولایت د تلفاتو شمېر په مجموعــي نفـوس کـې ۷,۷ فیصـده لیکـي، پـه داسې حال کې چې کونړ هره ورځ په ســکارټ ویشـتل کـېده او هلتـه ددولت پوځي عملیات هغه هم له کـابل څخـه عـادي خـبره وه او پـه مقابل کې زموږ پنجشیري هېوادوال له نېکمرغــه لـه داسـې جنجـالونو څخه بېغمه وو.

په هېواد کې د جګړې د تلفـاتو پـه هکلـه بـل تخمـین د محمـد صدیق نور زوی له خوا وړاندې شوی دی، د نوموړي دا کـړی اټکـل پر اساس د ۱۹۸۷-۱۹۷۸ م کلونو ترمنځ د ۱۷۰۵۳۰۴ تنو په شاوخوا کـې وژل شوي دي. همدا ډول نورمحمد خالد پــه دې برخـه کـې مفصـل ارقـام نشـر کـړي دي. دی پـه خپلـه مقاله کـې چـې د :Afghanistan Demagraphic Censequence تر عنوان لاندې يې د : ۱۹۹۱کـال د ۱۹۸۷- ۱۹۷۸ CENTRAL ASIAN SCRVEY of war.

په دریمه ګڼه کې خپره کړې ده، د جــګړې د تلفـاتو پـه هکلـه د ۸۷٦۸۲۵ تنو تخمین وړاندې کوي. سربېره پر دې د افغانستان د پـوځي او ملکي تلفاتو ترمنځ د تناسب په هکلــه هـم ځینـې اټکلونـه وړانـدې شوي دي، چې په دې برخـه کـې مـوږ د RUTH leger Sivard: warid militaiy and sooial Expenditore 1996 (washanqtan DC: worid prioritin 1996 د منبعې نوم اخیستلای شو، چې د هغې پر اســاس پـه مجموعـي تلفاتو کې د ملکي خلکو د شمېر فیصدي يې ٦۷ ښودلې وه.

د پخواني شوروي اتحاد د ستر درســتیز د اسـنادو او احصـائیو پـر اساس هم یو تخمین د نبي عظیمي د اردو وسیاســت د کتـاب پـه ۲۹۱ مخ کې وړاندې شوی دی، چې ددې تخمین پر اساس د شوروي قــواو تلفات د ۱۳٦۵ل کال تر پایه پورې ۱۲۰۰۰تنــه او د دولتـي او ګونـدي مراجعو تلفات ۳۸۰۰۰ تنه و، چې مجموعاً ۵۰۰۰۰ تنه کېږي او په مقـابل کې د مجاهدینو تلفات یو نیم ملیون شهیدان او یو ملیــون معیوبـین وو،

که څه واضحاً دا ارقام له مبالغې څخه ډک دي. خو یو امتیاز لري هغه دا چې د جګړې د یوه لوري د تلفاتو په هکله نسبتاً موثق معلومات وړاندې کوي، اوس که دې ارقامو ته د ۱۹۸۷ م کال ترپایه پراختیا ورکړو او د روسي قواو واقعي تلفات یانې ۱۵۵۰۰ تنه په خپله محاسبه کې داخل کړو او د ګوندې او دولتي تلفاتو شمېر هم د ۵۰۰۰۰ تنوپه شاوخوا کې فرض کړو، په دې توګه به دا رقم ۶۵۰۰۰ تنو ته ورسېږي.
اوس که د مجاهدینو د تلفاتو شمېر ددې رقم دوه چنده فرض کړو، په دې توګه ګورو چې ۲۰۰۰۰۰ تنه په مخامخ جګړو کې وژل شوي دي او دا د جګړې د پوځي تلفاتو شمېر دی، اوس که په مجموعي تلفاتو کې د ملکي خلکو تلفات ۲,۳ یا ۶۷٪ فرض کړو. په هغه صورت کې به د مجموعي تلفاتو شمېر ۶۰۰ زرو تنو ته ورسېږي، چې له دې جملې څخه ۴۰۰ زره تنه نا پوځي خلک دي.
د یادولو خبره داده چې که په مقایسوي ډول سره وګورو د ملکي خلکو تلفات د کوریا په جنګ کې ۵۰ فیصده او د ویتنام په جنګ کې ۵۸ فیصده دي او همدا ډول دا فیصدي په دویمه نړیواله جګړه کې د ۶۰ فیصدو په اندازه وه.
د مهاجرینو په هکله هم د قیق معلومات نه شته.
که څه هم زموږ په هېواد کې د معاصر افغانستان تر جوړېدلو د مخه د ډله ییزو مهاجرتونو زیات مثالونه شته، خو له ۱۷۴۷ کال راپدېخوا د امیر عبدالرحمن خان د دورې په استثناء زموږ خلک دې ته نه دي مجبور شوي، چې په ډله ییزه توګه خپل وطن پرېږدي.
د اوسنیو مهاجرتونو لړۍ زموږ په هېواد کې د چنګابې ترکودتا وروسته پیل شوه. دې مهاجرتونو سیاسي بڼه درلوده او یوازې سیاسي فعالین او ددوی د کورنیو پورې محدود پاتې شوي، د ثور تر کودتا وروسته په ۱۳۵۷ ل کال ډله ییزه مهاجرتونه پیل شول او د ۱۹۷۸ ل

کال د اپریل د میاشتې څخه بیا د ۱۹۷۹ ل کال تر سپتمبر پورې تر سلو زرو زیات افغانان یوازې پاکستان ته مهاجرشول.

د ملګرو ملتونو د احصائیو څخه داسې څرګندېږي، چې د روسانو تر راتګ د مخه دیو نیم کال په موده کې تقریباً ۴۰۲۱۰۰ تنه افغانان پاکستان ته مهاجر شوي وو، د روسانو تر یرغل وروسته د مهاجرو شمېر په پاکستان کې په ډېر سرعت سره زیاد شو او د اتیایم کال په نیمایي کال یو ملیون تنو ته ورسېده او د یوه کال په موده کې دوه چنده شو.

د ۱۹۸۳ ل کال په اواخرو کې دا رقم درې ملیونو ته لوړ شو، د ملګرو ملتونو د UNHCR د ادارې د خپرو شویو احصائیو پر اساس د ۸۵-۱۹۸۰ کلونو ترمنځ هرکال په اوسط ډول ۷۰۳۰۰۰ تنه افغانان مهاجر شوي دي.

پر ۱۹۸۷ م کال مجموعاً ۳,۱۵۶,۶۵۴ تنه افعان مهاجرین په پاکستان کې اوسېدل، چې له دې جملې څخه ۲۱۵۰۴۶۰ یا ۶۸ فیصده په صوبه سرحد کې ۸۱۲۳۳۲ تنه یا ۲۵,۷ فیصده په بلوچستان کې ۱۷۵۱۸۸ یا ۵,۵ فیصده په پنجاب او ۱۸,۶۷۴ یا ۰,۶ فیصده په سند کې اوسېدل، همدا ډول د ایراني منابعو د احصایې پر اساس په ۱۹۸۸ کال کې ۲,۲۲۱۷۰۰ تنه افغان مهاجرو په ایران کې ژوند کاوه چې ددوی له جملې څخه ۶۶۰,۰۰۰ تنه په نوابیان ۳۱۰,۰۰۰ تنه په اصفهان ۲۹۰۰۰۰ تنه په سیستان او بلوچستان ۱۷۰۰۰۰ تنه ، ۱۳۰۰۰۰ په کرمان، په فارس او۰۰۰۰۰ ۲۹ تنه د ایران پایتخت یانې تهران کې اوسېدل. اوس که د مهاجرو مجموعي ارقام په نظر کې ونیسو پر ۱۹۸۸ ل کال مجموعاً د ۵۳۷۸۳۵۴ ملیونو په شاوخوا کې افغان مهاجرو په پاکستان او ایران کې ژوند کاوه.

د پورتنیو ارقامو په هکله عمده ټکی دادی چې دا مهاجر د بیا مېشته کېدو یا Rasetelement نه دي وتلي، د افغان مهاجرو او ماورالنهر د

مهاجرينو تفاوت هم دا تکی و. له ماوراالنهر څخه د شلمې پېړۍ په شروع کې د ۵۰۰۰۰۰ تنو په شاوخوا افغانستان ته مهاجر شول او ددې مهاجرينو له جملې څخه ډېر محدود بېرته خپل وطن ته ستانه شول. په داسې حال کې چې اوس هم د جګړې اور په افغانستان کې بل دی، بيا هم ددې مهاجرينو شمېر د ملګرو ملتونو د احصائيو پر اساس تر يو نيم مليون کم شوی نه دی.

له بلې خوا د اتيايمې لسيزې په دوران کې چې کوم ارقام د افغاني مهاجرو په هکله خپاره شوي دي دزيات اعتماد وړ هم نه دي. دمخه تر دې چې ددې ارقامو د صحت او موثق والي په هکله وغږېږم. ددې مطلب يادونه ضروري بوله چې د افغاني مهاجرينو شمېر د کال په مختلفو فصلونو کې فرق درلود او همدا ډول په دې مهاجرتونو کې اکثره کورنۍ په Partial توګه مهاجرې شوې دي، يانې دوی له خپلې پولې او پټۍ لپاره د کورنۍ يو يا څو تنه پرې ايښي او دوی هم وخت پر وخت د خپلو کروندو خبر اخستی دی. همدا ډول ايران ته هم ددې مهاجرينو منظم ټک راټک موجود وو، په دې لحاظ ددوی د واقعي شمېر تعين نا ممکن کار دی. د احصائيو د صحت په هکله بايد ووايم چې دمثال په توګه د ايران دولت تل د مهاجرو شمېر په ايران کې تر دوو مليونو زيات ښودلی دی، په داسې حال کې چې هلته د افغاني مهاجرو شمېر هېڅکله يو مليون تنو ته هم نه دی رسېدلی. که څه هم د ملګرو ملتونو په ځينو خپرونو کې ددوی شمېر ۱,۲ مليونه ښودل شوی دی. تر ټولو ښه منبع چې ۱۳۶۵ ل کال کې د ايران د ځلورمې بشپړې سر شمېرنې نتايج دي، چې دهغو پر اساس په ايران کې د افغاني مهاجرو شمېر ۷۵۵۲۵۷ تنه و، چې له دې جملې څخه ۴۲۴۲۶۶ تنه په خراسان، ۸۷۰۵۲ تنه په سيستان او بلوچستان ۱۱۸۱۲۵ تنه په تهران، ۳۰۷۹۸۰ تنه په اصفهان، ۱۸۷۴۱ تنه په مازندران او

۲۳۰۷۹ تنه په کرمان کې اوسېدل. د جنس په تفریق له پورتني رقم څخه ۴۲۴۱۷٦ تنه نارینه او ۳۳۱۰۸۱ تنه ښځې دي.

د سن په لحاظ ۱۴۷۷۰٦ تنو افغاني مهاجرو تر ۴ کلونو لږ عمر درلود او ۱۷۰۰۲ تنو تر ٦۵ کلونو زیات عمر درلود او ۱۸۷۴٦۳ تنو مهاجرو د ۱۴-۱۵ کلونو ترمنځ عمر درلود اوپاتې مهاجرو د ۱۵ څخه تر ٦۴ کلونو ترمنځ عمر درلود چې شمېر یې ۳۱۸۵۱۴ تنه وو.

په ایران کې زیاتره مهاجرین له جنوب او جنوب لویدیزې حوزې څخه وې، د هغې احصایې پر اساس چې د ملګروملتونو له خوا خپره شوې ده او د افغاني مهاجرینو شمېر یې په ایران کې ۱،۲۷۷،۷۰۰۰ تنه ښودلی دی. له بادغیس د ولایت څخه ۱٦۷۰۰۰ تنه له هرات ولایت څخه، ۴۸۷۰۰۰ تنه په ایران کې مهاجر وو، چې ددې څلورو ولایتونو مهاجرینو په ایران کې د ټولو مهاجرو د ۷۵فیصده جوړاوه. همدا ډول د همدې احصایې پر اساس چې د افغاني مهاجرو شمېر یې په پاکستان کې ۳۲۷۱۵۸۰ تنه ښودلی دی. له پکتیا څخه ۵۲۹۸۰۷ تنو، له پکتیکا څخه ۹۴۲۹۵ تنو له کندهار څخه ۲۹۲۴۳۴ تنو له کندهارڅخه ۲۹۲۴۳۴ تنو له کابل څخه ۲۵۰۰۰۰ تنو له کونړ څخه ۲۱۰۰۰۰ تنو له ننګرهار څخه ۵۱۹۹۷۵ تنو او له لوګر ولایت څخه ۲۱۵۷۲۷ تنو اوله هلمند ولایت څخه ۲۱۲۹۰۴ تنو په پاکستان کې ژوند کاوه، څرنګه چې له یوې خوا ددې ارقامو په هکه شک او تردید موجود دی او له بلې خوا دې مهاجرو نه په پاکستان او نه په ایران کې ددایمي اقامت تصمیم درلود په همدې دلیل هم ددې مهاجرینو زیاته برخه بېرته خپل وطن ته راستانه شوي دي، له اوسنیو احصاییو څخه څرګندېږي چې په پاکستان او ایران کې د افغاني مهاجرو شمېر یو،پر څلورمې برخې ته لږ شوی دی.

د پورتنیو مشکلاتو ترڅنګ کې د ماشومانو دمړینـي نـرخ هـم پـه دې موده کې تغیر کړی دی او اوس د هغو د واقعي نرخ په هکله هېڅ ډول مستند معلومات نه شته، سر بېره پر دې د جګړې پـه نتیجـه کـې د نفوسو طبیعي ودې یا ډېربښت کې هـم تغـیرات رامنځتـه شـوي، چـې دهمدې ارقامو پر اساس تر ټولو ښه داده چې لـه ۱۹۸۰ م کـال څخـه راپدېخو دهغو ارقامو په ذکر اکتفا وکړو چې د Deinographic لـه خـوا خپاره شوي دي.

د افغانستان نفوس د ۱۹۹۹- ۱۹۸۰ کلونو ترمنځ

کلونه	دنفوسو شمېر	مليونه تنه
۱۹۸۰	۱۵,۹۵	//
۱۹۸۱	۱۶,۳۶	//
۱۹۸۲	۱۶,۷۸	//
۱۹۸۳	۱۷,۳۲	//
۱۹۸۴	۱۷,۷۶	//
۱۹۸۵	۱۸,۱۳	//
۱۹۸۶	۱۸,۶۵	//
۱۹۸۷	۱۵,۲۱۹	پرته له کوچیانو څخه
۱۹۸۸	۱۵,۵۱۲	//
۱۹۸۹	۱۵,۸۱۴	//
۱۹۹۰	۱۶,۱۲۰	//
۱۹۹۱	۱۶,۳۴۰	//
۱۹۹۲	۱۹,۰۶۲	ټول نفوس
۱۹۹۳	۱۷,۶۹۱	پرته له مهاجرينو څخه
۱۹۹۴	۱۸,۸۷۹	//
۱۹۹۵	۲۰۱۴۷	ټول نفوس

۱۹۹۶	۲,۸۸۳	//
۱۹۹۷	۲۲۱۳۷	//
۱۹۹۸		
۱۹۹۹		
۲۰۰۰	۲۵,۵۹۲	ټولټال

څلورمه ضمیمه

څرنګه چې په متن کې د سلوفیکي یادونه شوې ده، لازمه ده چې پر هغو فیصدیو هم وغږېږو چې نن سلوفیکي ته منسوب شوي دي، که څه هم د افغانستان د نفوسو دقومي جوړښت په هکله څېړنه زما له مقالي څخه وتلې موضوع ده او ما هم په ټوله مقاله کې له دې موضوع سره په ضمني ډول تماس نیولی دی خو څرنګه چې نن دې مطلب عمومیت موندلی دی او په اکثرو نړیوالو خپرونو کې یې خپله لار پرانیستې ده او له هېواد سره د علاقمندو هېوادوالو ترمنځ د بحث یوه ډېره توده موضوع ده، په دې لحاظ زه غواړم په دې هکله یو څه ولیکم:

سلوفیکي په خپله مقاله کې چې د Afghanistan the DECIMATION OF People تر عنوان لاندې د ORBISد ۱۹۸۹م کال د ژمي په ګڼه کې خپره شوه زموږ د هېواد د قومي جوړښت په هکله لاندې فیصدي لیکلې ده.

د افغانستان قومي جوړښت (۱۹۷۸ کال او ۱۹۸۷ کال کې)

مهاجرین په پاکستان کې

(فیصدي)

اتنیکي ګروپ	افغانستان ۱۹۷۸	افغانستان ۱۹۸۷	پاکستان ۱۹۸۷
پښتانه	۳۹	۲۲	۸۵

تاجك	۲۶	۳۴	۶
هزاره	۱۰	۱۴	-
ازبك	۱۰	۱۴	-
ترکمن	۳	۴	۱
نور	۱۲	۱۲	۸

تر ټولو دمخه ددې مطلب يادونه ضروري ده چې م. سيلوفيکي د افغانستان د نفوسو د قومي جوړښت په هکله کومه مستقله پلټنه نه ده کړې، د افغانستان د نفوسو شمېر (اندازه) د هغو جغرافيايي توزيع يا د هغه تفکيک په مېشته او کوچي په او يا د نفوسو داجتماعي او اقتصادي مشخصاتو څېړنه ددې سروې هدف نه و، همدا ډول سيلوفيکي د افغانستان د نفوسو د قومي جوړښت په هکله هم د ارقامو مختلف سيټونه په اختيار کې درلودل، دا مطلب د احصايې د پوهانو په اصطلاح م. سيلوفيکي ته احصائيه Statistic وه، ياني دا هغه مطالب و چې يو څېړونکی يې د خپلې سروې يا پلټنې د Condvect کولو لپاره په اختيار کې لري او له دې ارقامو د انتخاب لپاره هم خپل ځانګړي دلايل لري. مثلا دا چې ولې پښتانه دده په نظر د افغانستان د نفوسو ۳۹ فيصده جوړوي او دی دې رقم ته د ټولو هغو ارقامو په مقايسه ترجيح ورکوي چې په دې مودو کې موجود دي دده په قضاوت پورې اړه لري، خو هغه موضوع چې دسيلوفيکي د پلټنې مد نظر وه ياني په فني اصطلاح دده د پلټنې پارامتر PARAMETERS و. هغه د افغاني مهاجرو په هکله د معلوماتو لاسته راوړل وو او د جګړې د انساني تلفاتو په هکله د يوه تخمين وړاندې کول وو، دا هغه مطالب وو چې نوموړې ديوه څېړونکي په توګه د هغوی د پوهېدلو لپاره لېوال و، که څه هم ددې سروې د ميتودلوژۍ په هکله ډېر ملاحظات شته، خو فعلا مور د بحث د اوږدېدلو د مخنيوي په منظور ترې تېرېږو او يوازې ددې

ځمکې پرمخ یوازې ۱٦۳۴ ملیونو تنو ژوند کاوه. تر ۱۰۵ کلونـو وروسـته پر ۱۹۲۵م کال د نړۍ نفوس دوه ملیاردو ته زیات شو او د ۳۵ کلونو تر تیرېدو وروسته پر ۱۹٦۰م کال درې ملیارده شو. څلورم ملیاردو نه و پـر ۱۹۸۰م کال وروسته له شلو کلونو او پنځو ملیـاردو تـه پـر ۱۹۹۲م کـال وروسته له ۱۳ کلونو څخه ورسېده او د روان کال په دوران کې تـر اتـو کلونو وروسته شپږو ملیاردو ته زیات شو.

د نړۍ نفوس نقشـه د لویو وچو په تفریق

له ۴۰۰ق م څخه بیا تر ۱۹۹۹م کاله پورې — شمېرپه ملیون

کلونه	اسیا	اروپا	روسیه	افریقا	امریکا	نړۍ
ق م ۴۰۰	۹۵	۱۹	۱۳	۱۷	۸	۱۵۳
۰	۱۷۰	۳۱	۱۲	۲٦	۱۲	۲۵۲
۲۰۰م	۱۵۸	۴۴	۱۳	۳۰	۱۱	۲۵۷
٦۰۰م	۱۳۴	۲۲	۱۱	۲۴	۱٦	۲۰۸
۱۰۰م	۱۵۲	۳۰	۱۳	۳۹	۱۸	۲۵۳
۱۵۰۰م	۲۴۵	٦۷	۱۷	۷۸	۴۲	۴٦۱
۱۷۵۰م	[illegible]	۱۱۱	۳۵	۱۰۴	۱۸	۷۷۱
۱۹۰۰م	۹۰۳	۲۹۵	۱۲۷	۱۳۸	۱٦۵	۱٦۳۴
۱۹۵۰م	۱۳۹۳	۳۹۵	۱۸۰	۲۰۹	۳۳۹	۲۵۳۰
۱۹۹۰م	۳۱۱۳	۴۹۸	۲۵۹	٦۴۲	۷۲۴	۵۲۹۲
۱۹۹۸	۳٦۰۴	۷۲۸	-----	۷٦۳	۸۰۱	۵۹۳٦

له پورتني جدول څخه څرګندېږي چې د نړۍ نفوس د شلمې پېړۍ د پیل په مقایسه څلور چنده زیات شوی دی. همدا ډول په نړۍ کـې د اقتصادي فعالیتونو حجم زیاتوالي په همدې دوران کې د نړۍ د نفوسو د زیاتوالي په پرتله په خپل وار څلور چنده زیـات دی. پـه دې مفـهوم چې پر ۱۹۰۰م کال نړیوال تولید د۲،۳ تریلیونه ډالرو پـه انـدازه و. پـه داسې حـال کـې چـې ۱۹۹۸م کـال د نړیـوال تولیـد انـدازه ۳۹،۰۰ تریلیونه و. چې ۱۷چنده زیاتوالی په کې لیدل کېږي. پـر ۱۹۰۰م کـال

مطلب پر ویلو اکتفا کوو چې (۱) ددې سروې لپاره Sample د اندازې او انتخاب په هکله جدي سوالونه شته، مهمه خبره داده چې یوازې هغه څوک کولای شي چې د ډیرې لږې اشتباه سروې یوه نمونه انتخاب کړي، چې دیوه جماعت یا Popolation د اجتماعي، کلتوري او جغرافیایي خصوصیاتو په هکله معلومات ولري او په ساحه کې یې تجربه ترلاسه کړې وي، په هغه صورت کې به موږ هم فرض کړو چې واقعا پښتانه په ۱۹۷۸ کال کې د افغانستان د نفوسو ۳۹ فیصده وو، څکه دا فیصدي کله چې پلیاک په خپل تبلیغاتي اثر (نظام اجتماعي و اقتصادي افغانستان کې) د شپېتمې لسیزې په شروع کې وړاندې کړ. د افغانستان په چپي محافلو کې دې فیصدۍ عام مقبولیت ترلاسه کړ.

غبار د همدې فیصدۍ پر اساس د پښتو ژبې ویونکو شمیر په "افغانستان در مسیر تاریخ" کې سنجش کړ او میر محمدصدیق فرهنګ ته هم د افیصدي د قبول وړ وه، خو فرهنګ ددې پرځای چې پر اصل ماخذ باندې ورکړې دا مطلب یې د غبار په حواله راوړاندې کړ او نن هم دې فیصدۍ په اکثرو بهرنیو نشراتو کې انعکاس موندلی دی. اوس راځئ چې د هغو فیصدیو په هکله وغږیږو چې سیلوفیکي تر مهاجرتونو وروسته د همدې فیصدیو پر اساس سنجش کړی دی او دا به ښه وي چې دا موضوع دده په خپلو الفاظو بیان کړو او استدلال ته یې غوږ کیږدو:

سیلوفیکي په خپله محاسبه کې د افغانستان نفوس ۱۵ ملیونه فرض کړی دی.او په دې عقیده دی چې له دې جملې څخه ۵ ملیونه افغانان په بهر کې مهاجر شوي دي او ددې مهاجرینو له جملې څخه ۸۴ فیصده، په پاکستان او نیمایي په ایران کې پښتانه دي، په دې لحاظ نن د پخوا په شان پښتانه په افغانستان کې د شمیر په لحاظ تر ټولو ستر قوم نه دی، دا تاجکان دي چې نن په افغانستان کې د ۳۴فیصدیو

نفوس په درلودلو سره په لومړي مقام کې دي. تر هغوی وروسته خو هزارګان او ازبکان دي چې هر یو ۱۴ فیصده جوړوي او د کوچیانو په شمول (دلته کوچیان دي ۹۰۰,۰۰۰ تنه فرض کوي، هغه رقم چې مېرمحمدصدیق فرهنګ کې په افغانستان درپنج قرن اخیر او د Universal دایره المعارف کې لیکلي) د ۲۲ فیصدو نفوس په درلودلو سره د افغانستان دویم ستر قومي ګروپ جوړوي.

د سیلوفیکي محاسباتو ته توجه وکړئ:

د افغانستان نفوس	۱۵,۰۰,۰۰۰	
مهاجرین	۵۰۰۰۰۰۰	
پاتې نفوس	۱۰,۰۰۰,۰۰۰	۱۰۰%
په هغې جملې څخه		
کوچیان	۹۰۰,۰۰۰	۹ //
مېشته پښتانه	۱,۳۰۰,۰۰۰	۱۳//
ټول پښتانه	۲,۲۰۰,۰۰۰	۲۲//
تاجك	۳۴۰۰۰۰۰	۳۴//
هزاره	۱۴۰۰۰۰۰	۱۴//
ازبك	۱۴۰۰۰۰۰	۱۴//
ترکمن	۴۰۰۰۰۰	۴//
نور	۱۲۰۰۰۰۰	۱۲//

م. سیلوفیکي د پلیاک د ارقامو په استناد وایي چې:

پښتنو د ثور ترکودتا دمخه د نفوسو ۳۹ فیصده جوړوه، یانې د افغانستان د ۱۵ ملیونو اوسېدونکو له جملې څخه ۵ ملیونه پښتانه و، خو له دې جملې څخه د جګړې تر شروع کېدلو وروسته دلسو کلونو په دوران کې ۳,۷۰۰,۰۰۰ تنه مهاجر شول او ۹۰۰,۰۰۰ تنه هم کوچیان دي چې د افغانستان په دننه کې د اوسېدلو ثابت ځای نه لري، یوازې

۱،۳۰۰،۰۰۰ تنه پښتانه نن په افغانستان کې اوسېږي، چې د ټول هېواد د پاتې نفوس ۱۳ فیصده جوړوي، یا په بل عبارت له تورغندۍ څخه بیا تر تورخمه او د امو له سیند څخه بیا تر سپین بولدکه، یوازې او یوازې همدا ۱،۳۰۰،۰۰۰ تنه پښتانه ژوند کوي.

په دې کې هېڅ شک نه شته چې دداسې بې اساسو ادعاګانو او د یوې بشپړې سر شمېرنې د نتایجو په نشتوالي کې چې په هغه کې د نفوسو د قومي جوړښت په هکله معلومات راټول شوي وي مشکل کار دی. خو په هر صورت اوس موږ له دوو انتخابونو څخه زیات څه په اختیار کې نه لرو. یا دا چې دا محاسبې او پردي محاسبو باندې د بنا شوي استدلال نتیجه ومنو او یا دا چې دا ارقام دداسې یو چا مخې ته کېږدو چې هغه زموږ د هېواد په مختلفو محلاتو کې بلد وي او ددې په څنګ کې د پخوانیو دیموګرافیکو پلټنو له نتایجو سره هم اشنایي ولري، په دې صورت کې زه مطمین یم چې د هغه نظر به ددې محاسباتو په هکله داوي چې:

که یوه ګړی یې فرض کړو چې په کونړ، لغمان، ننګرهار، پکتیا، پکتیکا، لوګر، وردک، کندهار، هلمند، زابل، فراه کې یو پښتون هم نه وي پاتې او ټول مهاجر شوي وي بیا هم دا ادعا صحت نه لري، په دې دلیل چې که چېرته د ۱۹۷۸م کال ارقام د اساس په توګه ومنو یوازې د کابل، پروان، کاپیسا، غزنې، ارزګان، کندز، بلخ، بلخ او هرات د پښتنو شمېر هم تر دې تعداد زیات دی او دا خبره ان په هغه صورت کې هم اعتبار لري چې که موږ ددې ولایاتو مهاجر هدوی له نفوسو څخه منفي کړو او بیا یې د سیکوفیکي د وړاندې شویو فیصدیو پر اساس وسنجوو.

لاندې جدول ته توجه وکړئ

د مشخصو ولایاتو نفوس او د مهاجرینو شمېر ارقام (زرتنه)

ولایات	ټول نفوس	په ټول نفوس کې د پښتنو شمېر او فیصدي		مهاجر پاکستان	ایران
کابل	۱۳۷۲	۶۹	۹۴۶	۹۶۰۰۰	۱۰۰
کاپیسا.پروان	۷۸۲	۴۷	۳۶۸	۵۴۰۰۰	۳
غزني	۷۰۱	۵۳	۳۷۱	۲۱۰۰۰	۱۷
کندوز	۵۷۵	۶۹	۳۹۶	۲۷۷۰۰۰	-
بلخ	۵۷۰	۵۳	۳۰۲	۲۷۵۰۰۰	۲
هرات	۶۸۵	۵۸	۳۹۷	_	۴۷۸
ارزګان	۴۸۳	۵۳	۲۵۵	_	۳۱
فاریاب	۳۷۵	۲۸	۱۳۳	_	_
ټول	۵۸۴۰		۲۷۹۷	۹۱۳.۰۰	۶۳۱.۰۰

له پورتنیو ارقامو څخه څرګندېږي چې د کابل ، پروان، غزني، کندز، بلخ، هرات، ارزګان او د فاریاب له ولایاتو څخه مجموعاً ۱,۵۴۳,۰۰۰ تنه مهاجرشوي دي، چې له دې جملې څخه ۹۱۲۰۰۰ تنه پاکستان او ٦٣١٠٠٠ تنه په ایران کې اوسېږي، اوس که د سیلوفسکي وړاندې شوي فیصدي په نظر کې ونیسو، د پاکستان د ۹۱۳ زره تنو مهاجرو له جملې څخه به ۷۷٦ زره تنه پښتانه دي او همدا ډول د ایران د ٦٣١ زره تنو مهاجرو له جملې څخه به ۴۳ زره تنه پښتانه وي، چې په دې توګه د پښتنو مهاجرو شمېر په مجموعي توګه

+۷۷۶۰۰۰

۲۴۳۰۰۰

۱۰۱۹۰۰۰ دي

څرنګه چې په دې ولایاتو کې د پښتنو مجموعي شمېر ۲۷۹۷۰۰۰ تنه دی، په دې لحاظ پاتې پښتانه په دې ولایاتو کې:

PROPERTY ARIC Established 1989

۲۷۹۷۰۰۰
۱۰۱۹۰۰۰
۱۷۷۸۰۰۰

یا د ۱,۸ ملیونو په شاوخوا کې دي، چې له ۹۰۰۰۰۰ تنو کوچیانو سره یوځای د ټولو هېواد د پاتې نفوس ۲۷ فیصده جوړوي. زه د بحث د اوږدېدو په خاطر نه غواړم چې دلته د کوچیانو د شمېر په هکله چې کومه اشتباه شوې ده وغږېږم، ځکه د کوچیانو واقعي شمېر ۱,۵ ملیونه دی نه ۹۰۰ زره تنه او دا شمېر هم د ADS د سروې پر اساس تائید شوی دی او هم د لومړی بشپړې سرشمېرنې د مقدماتي نتایجو د ارقامو پر اساس همدا ډول زه نه غواړم چې په دې محاسباتو کې د سمنګانو، جوزجان، تخار، بادغیس، بغلان، غور او نیمروز پاتې پښتانه شامل کړم. ځکه ددوی په شاملېدلو سره به دا فیصدي لاندې شکل غوره کړي:

پاتې پښتانه په ۸ ولایاتو کې	۱,۷۷۸,۰۰۰
کوچیان	۱۵۰۰۰۰۰
د جوزجان، تخار، بادغیس، پاته پښتانه (اصل نفوس ـ مهاجر)	۳۳۰,۰۰۰
	۳,۶۰۸,۰۰۰

یا ۳۶ فیصده

واقعیت دادی چې پښتانه د افغانستان د نفوس تر نیمایي زیات دي او دا موضوع هغه وخت په ښه توګه څرګندېږي چې موږ په دې محاسباتو کې په پاکستان او ایران کې مېشته پښتانه او د یوولسو پاتې پښتني ولایاتو نفوس هم داخل کړو، خو د بحث د اوږدېدو د مخنیوي په منظور زه پر همدې اکتفا کوم او د زیاتو معلوماتو لپاره د ګرانو لوستونکو د واک فونډېشن د ارزښتناک اثر د مطالعې وړاندیز کوم.

په نړۍ کې د سړي عايد په منځنۍ توګه ٦٦٠٠امريکـايي ډالـره دی، د نړيوال اقتصاد وده د ١٩٩٩-١٩٩٥م کالونو ترمنځ ياني د درېيو کلونو په دوران کې ٢.٥٠٠ ملياردو ډالـرو پـه شـا و خـوا کـې و، چـې دا رقـم د نړيوال اقتصاد له ودې څخه چې د ١٠٠اق م (د کرنې له پيلـه د شـلمې پېړۍ تر پيله پورې زياته ده).



د نړۍ ناخالصه توليد د ١٩٩٧ ١٩٠٠م کلونو ترمنځ

١٠٠٠کاله له مخه د نړۍ د ٢٥٣ مليونه نفوس له جملـې څخـه ١٣٩ مليونو په هند (هند+ بنګله دېش+ پنجـاب+ سـند او چـين) کـې ژونـد کاوه. هند د ٧٩ مليونه نفوس په درلودلو سره لومړی مقام او چين د ٦٠ مليونو نفوس په درلودلو سره دويم مقام درلود، تر دوی وروسته د نـړۍ د هېڅ هېواد نفوس تر لسو مليونو زيـات نـه و او فرانسـې د ٦.٥ مليونـه نفوس په درلودلو سره درېيم مقام درلوده. پر ١٥٠٠م کال چـين د ١١٠ مليونو نفوس په درلودلو سره لومړنی مقـام خپـل کـړ او د هنـد نفـوس ١٠٥ مليونو ته ورسېده . بيا هم تر دوی وروسته په نړۍ کې هېڅ هـېواد د ٢٠ مليونو په شا و خوا کې نفوس نـه درلـود او جـاپـان د ١٧ مليونـو اوسېدونکو په درلودلو سـره درېيـم او فرانسـې د ١٥ مليونـه نفـوس په

درلودلو سره درېيم او فرانسې د ۱۵ مليونه نفوس په درلودلو سره څلورم مقام درلوده.

د شلمې پېړۍ په پيل کې چين او هند د ۷۲۵ مليونو نفوس په درلودلو سره دويم مقام درلوده. د شلمې پېړۍ په پيل کې روسيې د ۱۰۰ مليونو په شاو خوا کې نفوس درلوده او ترو روسيې وروسته جرمني د ۴۳ مليونو نفوسو په درلودلو سره څلورم مقام خپل کړی و. د همدې پېړۍ په پيل کې د نړۍ پرمخ د اوسېدونکو له هرو څلورو تنو څخه يو تن اروپايي و او اروپا د ۶۰۰ مليونو تنو اوسېدونکو په درلودلو سره تر اسيا وروسته دويمه ستره وچه وه، په داسې حال کې چې نن د ۷۲۸ مليونو نفوسو په درلودلو سره د نفوسو په لحاظ د نړۍ څلورمه ستره وچه ده.

د نفوسو په لحاظ د نړۍ ۲۰ ستر هېوادونه (۲۰۵۰) مليونه تنه

Rank	هېواد	نفوس	Rank	هېواد	نفوس
۱	چين	۱،۲۵۵	۱	هند	۱۵
۲	هند	۹۷۶	۲	چين	۱۵۱۷
۳	متحده ايالات	۲۷۴	۳	پاکستان	۳۵۷
۴	اندونيزيا	۲۰۷	۴	متحده ايالات	۳۴۸
۵	برازيل	۱٦۵	۵	نايجريا	۳۳۹
٦	روسيه	۱۴۸	٦	اندونيزيا	۳۱۸
۷	پاکستان	۱۴۷	۷	برازيل	۲۴۳
۸	جاپان	۱۲٦	۸	بنګله دېش	۲۰۰
۹	بنګله دېش	۱۲۴	۹	ايتوپيا	۲۱۳
۱۰	نايجريا	۱۲۲	۱۰	ايران	۱۷۰
۱۱	مکسيکو	۹٦	۱۱	کانګو	۱٦۵
۱۲	جرمني	۸۲	۱۲	مکسيکو	۱۵۴
۱۳	ويتنام	۷۸	۱۳	فلپين	۱۳۱
۱۴	ايران	۷۳	۱۴	ويتنام	۱۳۰
۱۵	فلپين	۷۲	۱۵	مصر	۱۱۵

۱٦	مصر	٦٦	۱٦	روسیه	۱۱۴
۱۷	ترکیه	٦۴	۱۷	جاپان	۱۱۰
۱۸	تایلند	٦۲	۱۸	جنوبي افریقا	۹۱
۱۹	فرانسه	٦۰	۱۹	ترکیه	۹۸
۲۰	ایتوپیا	۵۹	۲۰	تانزانیا	۸۹

اخیستنه:

United natinos, norid population prospeet: the 1996 revision (New Yark 1996).

دعیسویت په شروع کې چې د روم امپراتوري دخپل قدرت په معراج کې وه، روم ٦۵۰۰۰۰تنه نفوس درلوده، د روم د امپراتورۍ تر سقوط وروسته قسطنطنیه یا اوسنی استامبول چې دشرقي روم یا بیزانتین مرکز و تر ټولو ستر ښار و او د ۳۵,۰۰۰۰تنو په شاوخوا کې یې نفوس درلوده.

په دې وخت کې زموږ په هېواد کې بلخ، پېښور ستر ښاري مرکز و چې بالترتیب یې نفوس درلوده. له ۸۰۰م څخه بیا تر ۱۸۰۰م کال پورې د اسیا براعظم(لویه وچه) دستروښاري مراکزو د درلودلو په لحاظ په نړۍ کې وړاندې و، بغداد چې د اسلامي خلافت مرکز و ۱۲۵۰۰۰تنه نفوس یې درلوده او اصفهان چې دصفوي ترکانو پایتخت و ٦۰۰۰۰۰ تنه نفوس یې درلوده.

دیادولو وړ خبره داده چې په اسیایي ملتونو کې ، ښارونو زیاتره اداري، سیاسي او پوځي اهمیت درلود او د اقتصادي فعالیتونو غټ مرکزونه وو، په دې دوران کې ددې ټولنو اقتصاد، کرهنې او مالدارۍ باندې بنا و، داسې مثالونه هم شته چې یوې خواته د پراخو سرقیانو په نتیجه کې به ښار خالي شو، څکه دپوځ په وتلو سره به ښار هم وخوځېده او کله چې به یوه سلسله ختمېده او یا به پر ښارونو د بهرني یرغل خطر رامنځ ته کېده دښار خلک به تیت وپرک کېدل، په دې برخه کې ښه مثال اصفهان دی، چې د ۱۸ مې پېړۍ په شروع کې یې د

۶۰۰۰۰۰ تنو نفوس په درلودلو سره تر پیکنگ وروسته په نړۍ کې دويم ښار و. خو کله چې محمود اصفهان ونيوه په دې ښار کې يوازې ۶۰۰۰۰ تنه پاتې و، پاتې يا له لوږې مړه شوي وو يا په جګړو کې وژل شوي وواو يا تبتبدلي وو او اصفهان بيا هيڅ وخت بېرته خپل تاريخي اهميت تر لاسه نه کړ.

تر صنعتي انقلاب وروسته ښارونه زياتره د اقتصادي فعاليتونو د مرکزونو په توګه ظهور وکړ او اقتصادي فعاليتونه په ښارونو کې متمرکز شول، په نتيجه کې نفوس په دايمي توګه په ښارونو کې ځاى پرځاى شو او دسياسي تحولاتو تاثر هم پر ښاري نفوس ډېر محسوس نه و. له بلې خوا د نړۍ زياترو سترو ښارونو په اروپا کې تمرکز وموندې، مثلا پر ۱۸۷۵م کال د نړۍ د ۲۵ سترو ښارونو له جملې څخه چې تر ۳۵۰ زرو تنو يې زيات نفوس درلود. يوازې قاهره، مدراس، شانګهاى، استامبول، کلکته، توکيو، کانتون، پيکنګ د اروپا له لويې وچې څخه بهر وو، پاتې ۱۷ ښارونه په اروپا کې پراته وو او جالبه هم داده چې د همدې ښارونو له جملې څخه يوازې پر توکيو، پيکنګ او استامبول باندې اروپايانو تسلط نه درلوده پاتې ښارونه ټول د اروپايانو له خوا اداره کېدل.

دشلمې پېړۍ په شروع کې د نړۍ د ۱۰ سترو ښارونو له جملې څخه يوازې توکيو د اسيا په لويه وچه کې پروت و، د پاتې نهو سترو ښارونو له جملې څخه ۳ په شمالي امريکا او پاتې شپږ په اروپا کې پراته وو.

ديوويشتمې پېړۍ په پيل کې د اسيا براعظم بېرته خپل تاريخي مقام په دې برخه کې ترلاسه کړى دى، پر ۲۰۰۰م کال به دنړۍ دلسو سترو ښارونو له جملې څخه هيڅ يو په اروپاکې موقعيت نه لري او يوازې دوه ښارونه به په شمالي امريکا کې پراته وي، پاتې ټول ستر ښارونه د اسيا په لويه وچه کې دي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د جوړېدو د [illegible] کاليزې په وياړ

په شلمه پېړۍ کې د هېواد نفوس

ليکوال

محمد حسن سهاک

۱۳۸۱ل / ۲۰۰۲م کال

ARIC
B
3.10-2
SAH
10086

په دې کتاب کې

- شلمه پېړۍ اونفوس.
- دسرشمېرنې او یا د نفوسو د شمېر میتودونه.
- ددوه چنده کېدلو موده.
- په ګاونډیو هېوادونو کې سرشمېرنې.

او همداسې په شلمه پېړۍ کې د افغانستان د نفوسو په هکله خورا ګټور موضوعات څېړل شوي دي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني
VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونولړ (۳۷)

په شلمه پېړۍ کې د هېواد نفوس

لیکوال

محمدحسن سهاک

۱۳۸۰ل.۲۰۰۲م کال

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

د خپروندویې ټولنې یادښت

د یو هېواد د وګړو سرشمېرنه نه یوازې د هغه هېواد د اقتصادي، کلتوري او ټولنیزې ودې لپاره یو ضروري کار دی، بلکې په ټولنه کې د سیاسي ثبات او د هغه هېواد د خلکو د حقه حقوقو د خوندیتوب لپاره هم یو ګټور کار دی. په هغو هېوادو کې چې بېلابېل قومونه په کې اوسي د اقلیت او اکثریت خبره په کې مطرح وي دقیقه سرشمېرنه خورا ډېره ضروري ده او که یوه کره سرشمېرنه نه وي . نو د هر قوم د حقوقو مدعیان هڅه کوي د خپل قوم د وګړو شمېر زیات وښیي، په ځانګړي ډول که په دې وخت کې ګاونډیان او نور لرې و نږدې هېوادونه د خپلو ګټو لپاره ورته لاس وغځوي. غوره بېلګه یې زموږ خپل هېواد دی چې د یوې پوره اوکره سر شمېرنې د نشتوالي له امله هرڅوک ځان ته خپل شمېر ټاکلی او ځینو بهرنیانو بیا لا دا لوبه نوره هم ګرمه کړې ده.

دا اثر د سرشمېر پر ضرورت، میتودونو او شویو احصائیو بحث کوي او دیوې پېرۍ په اوږدو کې د افغانستان د وګړو د شمېر جاج وړاندې کوي. دهغو کسانو نظریو ته هم اشاره کوي، چې زموږ د هېواد د بېلابېلو قومونو لپاره یې تصنعي احصایې جوړې کړي، اکثریت یې پر اقلیت او اقلیت یې پر اکثریت بدل کړی دی. لیکوال د پخو دلیلونو په وړاندې کولو سره خپله فرضیه تشریح کړې او په ډېر زغم یې موضوع شنلې ده.

د سرشمېرنې په برخه کې دا یو مهم او ګټور اثر دی چې لیکوال ته یې د چاپ له امله مبارکي وایو او لوستونکي یې لوستو ته رابولو.

په درنښت

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

د خپروندويې ټولنې يادښت

د يو هېواد د وګړو سرشمېرنه نه يوازې د هغه هېواد د اقتصادي، کلتوري او ټولنيزې ودې لپاره يو ضروري کار دی، بلکې په ټولنه کې د سياسي ثبات او د هغه هېواد د خلکو د حقه حقوقو د خونديتوب لپاره هم يو ګټور کار دی. په هغو هېوادو کې چې بېلابېل قومونه په کې اوسي د اقليت او اکثريت خبره په کې مطرح وي دقيقه سرشمېرنه خورا ډېره ضروري ده او که يوه کره سرشمېرنه نه وي . نو د هر قوم د حقوقو مدعيان هڅه کوي د خپل قوم د وګړو شمېر زيات وښيي، په ځانګړي ډول که په دې وخت کې ګاونډيان او نور لرې و نږدې هېوادونه د خپلو ګټو لپاره ورته لاس وغځوي. غوره بېلګه يې زموږ خپل هېواد دی چې د يوې پوره اوکره سر شمېرنې د نشتوالي له امله هرچا ځان ته خپل شمېر ټاکلی او ځينو بهرنيانو بيا لا دا لوبه نوره هم ګرمه کړې ده.

دا اثر د سرشمېر پر ضرورت، ميتودونو او شويو احصائيو بحث کوي او ديوې پېړۍ په اوږدو کې د افغانستان د وګړو د شمېر جاج وړاندې کوي. دهغو کسانو نظريو ته هم اشاره کوي، چې زموږ د هېواد د بېلابېلو قومونو لپاره يې تصنعي احصايې جوړې کړي، اکثريت يې پر اقليت او اقليت يې پر اکثريت بدل کړی دی. ليکوال د پخو دليلونو په وړاندې کولو سره خپله فرضيه تشريح کړې او په ډېر زغم يې موضوع شنلې ده.

د سرشمېرنې په برخه کې دا يو مهم او ګټور اثر دی چې ليکوال ته يې د چاپ له امله مبارکي وايو او لوستونکي يې لوستو ته رابولو.

په درنښت

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني